بسم الله الرحمن الرحیم

# روښان ستوري


مؤلف

پوهاند صدیق الله رښتین



خورونکی

یونیورسټي بک ایجنسي

خیبر بازار - پېښور

# روښان ستوري

مؤلف
پوهاند صدیق الله رښتین

خورونکي
یونیورسټي بک ایجنسي
خیبر بازار - پېښور

د کتاب نوم - روښان ستوري

ليکوال - پوهاند صديق الله «رښتين»

د چاپ کال - ۱۹۸۲م کال

کاتب - محراب الدين «يوسفزی»

شمېر - (  ) ټوکه

بيه - (۴۰) روپۍ

خورونکی - يونيورسټي بک ايجنسي - خيبر بازار -
پېښور

د چاپ حق محفوظ دی

# سرلیکونه


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱- | سریزه | ۱ |
| ۲- | لومړی برخه - میاروښان | ۶ |
| ۳- | د پیری او طریقت دوره | ۹ |
| ۴- | خلیفګان او مریدان یې | ۱۳ |
| ۵- | شاعران او ادیبان | ۱۷ |
| ۶- | د روښان زوی داد | ۲۵ |
| ۷- | شیخ عمر | ۲۶ |
| ۸- | جلال الدین | ۲۹ |
| ۹- | احداد | ۳۶ |
| ۱۰- | د احداد او الله داد خوابدی . | ۳۹ |
| ۱۱- | د احداد او راجا بهاری جنګ | ۴۱ |
| ۱۲- | د لواغر جنګ | ۴۲ |
| ۱۳- | عبد القادر | ۴۶ |
| ۱۴- | میرزا خان انصاری | ۵۰ |

# بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ

## سریزه

د لوی خدای په نامه د روښان ستوري د کتاب په پېلو
لاس پوري کوم. خو په سریزه کې د کتاب د ضرورت، مقصد
او کیفیت په باب یو څو خبرې کول هم ضروري بولم.

له نن نه (٥٠) کاله پخوا چې په پښتو ژبه کې د پښتانه
شعراء اول تذکره لیکل کېږي، نو هلته یې د روښان
او روښانیانو یادونه راغلې وه. پښتانه شعراء په (١٣٢١)
ش کې چاپ شو. له دغه وروسته، ادبي څېړنې
او پلټنې شروع شوې.

ښاغلي عبد الله بن خادم د دغه کال په کابل کالنۍ کې
د میا روښان په باب لومړۍ مقاله خپره کړه. بیا (١٣٢٢)
کال په کابل کالنۍ کې د پښتو ادب د درې مشهورې کورنۍ
د عنوان لاندې زما یوه مقاله خپره شوه چې لومړی کورنۍ یې

د میارو ښان کورنی وه . د میا روښان پر باب ورځ پورځ معلومات زیاتیدل او نوی آثار منځ ته راتلل . وروسته په (۱۹۵۲ ع) کال د روښان خپل اثر صراط التوحید چاپ شو . لس کاله وروسته په پېښور کښې خیر البیان د چاپ میدان ته راووت . د کابل په مجلو کښې ځینې مقالې خپرې شوې . په (۱۹۶۵ ع) کال پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ، د روښاني تحریک د عنوان لاندې ښه معلومات خپاره کړل . په همدغه وخت کښې د پښتو ادبیاتو د تاریخ په دوهم ټوك کښې د روښان د مسلك ، ادبي او روحاني چارو په باره کښې ډیرې خبرې وشوې . غرض دا چې پیړۍ وروسته شلو کالو کښې د روښان په باب ، په لوړه او بره پښتونخوا کښې نږدې (۲۰) کتابونه خپاره شول . خبریات مطالب د اخون درویزه د مخزن الاسلام ، تذکرة الابرار او د بستان مذهب د لیکنو له مخه وه . بیا کله چې نږه په (۱۳۴۲ ش) کښې (۱۴) کاله وړاندې د هند په علیګړ کښې د حالنامې د قلمي نسخې په لټه بریالی شوم او بیا مې په (۱۳۴۴ ش) کښې په دوهم ځل د حالنامې نور هم ډیر معلومات را نقل کړل ، نو د روښان او د ده د کورنۍ په باب ډیر نوی مواد لاس ته راغلل . د پښتنو د ادبي او کلتوري تاریخ سره زما مینه او علاقه زما د ژوند عمر سره ملګرې ده . نو ځکه مې په پرلپسې ډول د غه لاره تعقیب کړې ده او هر چېرې

چې مې د پښتنې ادب، کلتور او تاریخ په باب ځېنې معلومات موندلي
دي، هغه مې را ټول کړي دي .

حالنامه په اصل کښې د علي محمد مخلص له خوا په پارسي
ژبه لیکل شوېده، خو ما ورځنې لس پنځلس کاله پخوا، ځینې
مهم معلومات را واخیستل او په روانه پښتو مې ولیکل .
دغه معلومات په حالنامه کښې کړه وړه راغلي دي، خو ما په دې
کتاب کښې یو نوی ترتیب ورکړ او په یو نوي چوکاټ کښې مې واچول.

په (۱۳۵۳ ش) کال کښې چه په کابل کښې د روښان
نړیوال سیمینار جوړ شو، په دې سیمینار کښې هر چا هر څه
ولیکل او په خپل خیال ئې د روښان تحریک او نهضت ته
رنګا رنګ نومونه ورکړل . چا یو بزګري نهضت وباله، چا
ورته د جاګیردارانو پر ضد نهضت وواېه، چا مذهبي او
دیني رنګ ورکړ، چا ملي او پښتني تحریک وباله (۱)، چا
ولیکل چه دده مریدان عوام وو او خانان، ملایان،
ملاکان او روحانیون دده سره نه وو، نو لدې کبله
یو عوامي نهضت وبلل شو (۲). سربېره پر دې ډېرو لیکوالو
د روښان او دده د کورنۍ په باره کښې له هغو غوزېږو

(۱)، (۲) د روښان یاد - پښتو ټولنه -
(۱۳۵۵ ش) کال - (۱۲۵ - ۱۸۱) مخونه .

معلوماتو ځنی کار اخیستی دی چه د مخزن او دبستان مذاهب
په حوالو تر اوسه پورې پاتې دي .

نو د دی ادبي ، تاریخي او ملي ضرورت له مخه ، ما وغوښتل
چه د روښان او د ده د اصلي او ر ښتیاني مسلک ، کورنۍ
او اولاد په باره کښې نوی باوري معلومات د علم او ادب
مینانو ته وړاندې کړم او د خپلې لیکوالي په حدودو کښې د
روښاني تحریك او د روښانیانو اصلي شکل او بڼه څو چا ته
څرګنده کړم .

دا کتاب د تاریخي نقشې له مخه په دوو برخو ویشل کیږي :
اوله برخه د میا روښان او د ده د کورنۍ ، اولاد او
پیروانو په باره کښې صحیح معلومات دي چه د حالنامې څخه
اخیستل شوي او په روانه پښتو ، په یو نوي رنګ او
بڼه ترتیب شویدی . البته په ځینو ځایو کښې ضروري
حاشیې ورسره زیاتې شویدی . او دوهمه برخه
د روښان د مسلک ، تحریك ، پیروانو او نورو په باره
کښې ده چه له صراط التوحید او نورو ځایو څخه راټوله شویده .

زه هیڅکله دا دعوه نه کوم چه دا کتاب به کوم ندی
کافي او بسیا وي . د حالنامې کامله نسخه چه (٥٢٦)
پاڼې لري ، له ډیرو معلوماتو ډکه ده او بنایي د چاپ میدان ته

راووځی . خو د دومره ویلای شم چه پدې کتاب کښې به له ټولو پخوانو کتابونو څخه نوی معلومات زیات وی ، د تألیف او لیکوالی له کمزوریو بر خلاص وی او د روښنیان مفکوره او مسلك به په کښې په خپل ریښتیانی شکل ښودل شوی وی !!

پوهاند صدیق الله « رشتین » - کابل -
د میزان اول - (۱۳۵۶) ش کال

# لومړی برخه

# میاروښان

د میاروښان اصلي نوم بایزید دی . پلار یې عبدالله نومېده چه د نسب سلسله یې پدې ډول بیانیږي:

عبدالله د شیخ محمد زوی وه ، هغه د شیخ بایزید پرنده ، هغه د شیخ محمود ، هغه د شیخ سراج الدین ، هغه د مولانا ابراهیم دانشمند ، هغه د خواجه حمزه ، هغه د خواجه محمود ، هغه د شمس الدین ، هغه د شیخ خلیل ، هغه د شیخ لقمان ، هغه د شیخ حداد ، هغه د شیخ منصور ، هغه د شیخ محمد ، هغه د شیخ احمد انصاري ، هغه د خواجه ایوب انصاري زوی وه او دی د پیغمبر (ص) یو صحابي وه .

د میاروښان مور بي بي (ایمنه) نومېده چه د حاجي ابابکر لور وه . حاجي ابابکر د پنجاب په (جلندر) کښې اوسیده . د عبدالله او بي بي (ایمنې) نیکونو هم په قام کښې سره یو او نژدې خپلوان وه .

د بایزید نیکه شیخ محمد د وزیرو مسودو په
کاني ګرام کښې اوسیده، خو د هند تجارت بری کاوه. په
دغه تګ راتګ کښې نو موړي ابابکر، د ده زوی عبد الله ته
خپله لور ورکړه. بایزید له دغې مور څخه د (۹۲۸ هـ)
شاوخوا په (جالندهر) کښې زیږیدلی دی، ولې چه مور
یې د خپل پلار په کالد کښې اوسیده له.

کله چه په (۹۳۲ هـ) کال بابر پاچا په هند یرغل وکړ
او هند یې له افغانانو ونیو، د غه وخت بایزید پنځه کلن
وه. وایي چه د غه وخت د بایزید د مور سره د خرڅ پیسې
نه وې، نو خپله کانه به یې خرڅوله او ګذاره به یې پرې کوله.
د مغلو د دغه چپاو په وخت کښې زیات پښتانه له پنجاب
څخه د هند د بهار سیمې ته لاړل چه د پښتنو یو ولایت
ګڼل کیده او د بایزید مور له خپل لیور، خدای داد سره
د کاني ګرام په لور د تلو نیت وکړ. په لاره کښې د بابر فوځونو
مخې له ورغلل. بابر امر وکړ: (افغانان را بقتل برسانید
و مالش را تاراج نمائید). نور کاروانیان یې ووژل،
خو شیخ خدای داد ورنه ځان په دې خلاص کړ چه زه انصاري
یم. په دې صورت دوی کاني ګرام ته ورسیدل او هلته پاتې
شول.

د بایزید پلار عبد الله په کاني ګرام کښې بله ښځه هم درلوده چه (فاطمه) نومیده . هرکله چه عبد الله ته دا ښځه ګرانه وه او د بایزید مور ورته ناګرانه وه ، نو هغه بیا څه موده ورسره د خپل پلار کره جالندهر ته ولاړه او بایزید د میرې مور لاس ته پاتې شو .

د بایزید پلار عبد الله په کاني ګرام کښې قاضي وه - ده لومړنۍ زده کړه له خپل پلار نه وکړه . قرآن شریف یې د خپل پلار له شاګرد ، ملا پایندې نه ولوست او نور ضروری تعلیم یې هم له ده نه وکړه .

کله چه بایزید ځلمی شو او د میړانی وخت ته ورسیده نو خپل تره شیخ حسن له لور سره یې چه (شمسو) - نومیده ، واده وکړ . له دې مایینې څخه یې پنځه زامن او یوه لور پیدا شوه . د زامنو نومونه یې دا دی :

شیخ عمر ، خیرالدین ، نورالدین ، کمال الدین ، جلال الدین او لور یې کمال خاتول (خاتول) نومیده .

شپږم زوی یې دولت نومیده چه له بلې مور وه او مور یې (توره ادې) بلل کیده .

په حالنامه کښې د میاروښان د دوو ترونو ، شیخ خدای داد او شیخ حسن نومونه راغلي دي ، خوله

صراط التوحید نه معلومیږي چه دده نیکه شیخ محمد دولس زامن درلودل (۱).

میاروښیان یو میړنی ورور رحم درلود چه یعقوب نومیده. شیخ اسمٰعیل او محمد کمال یې د تره زامن وه.

حالنامه لیکي چه میاروښیان په موسیقي کښې هم نوي نغمې بیدا کړې وې او د غه شپږ مقامي تالیکي وو:

ناسري، پنځ پرده، چارپرده، سه پرده، دجنګ پرده، دشهادت مقام. حالنامه دا هم وايي: چه میاروښیان قصیدې غزلونه او غلونه یې جوړې کړې او ترامنو او مریدانو یې پښتو دیوانونه جوړ کړل.

# دپیری او طریقت دوره

روښیان له کوچنیوالي څخه دیوروښیان فکر او بیدار ذهن خاوند وه. د رواجي زده کړې نه وروسته د روحانیت په لاره روان شو. غوښتل یې چه د خپل تربور شیخ اسمٰعیل څخه لاس نیوه وکړي، خو خپل پلار قاضي عبدالله اجازه ورنکړه. ولې ده خپله لاره پرې نه ښودله. د روح په پاکوالي او پرلپسې

(۱) صراط التوحید - دپېښور چاپ - (۳) مخ.

عبادت بوخت شو . له دنیا نه یې مخ وګرځاوه او د روحانیت
په لوړې مخ وکړه . له (۲۱) کاله ریاضت نه وروسته یې
د پیرۍ او د خلکو د لارښوونې د رښد وظیفه په غاړه واخیستله .
د پیرخلک یې د مریدۍ په لړۍ کښې رانوتل او د تبلیغ
رڼایې هرې خوا ته په خپریدو شوه . په لومړي ځل د ستیرا
(ستوري) ته راغی . د غلته د فرید خان په ځای کښې د پیر شو .
دی د دولت زی قبیلې خدای داد خیل او یو عالم سړی وه .
په دې وخت کښې د پیر بنګش ، ورکزی ، اپریدی او تیراهی دده
مریدان شول . بیا له تیرا نه پیښور ته ولاړ او هلته د
ملک شاتي خلیل په کاله د پیر شو . د پیرخلیل ئې مریدان
شول او د پیرۍ نوم یې هرې خوا ته ورسید . په دې وخت
کښې ملک حبیب (د شاتي تربور) ورسره مخالفت شروع
کړ . د پیښور صوبه دار جانس خان ته یې دده په سر شکایت
وکړ . هغه یو څو تنه پوه کسان ور ولیږل چه حال احوال یې
معلوم کړي او خبرې ورسره وکړي . دغه استازی له خبرو
کولو نه وروسته واپس راغلل او جانس خان ته یې وویل
چه یو مسلمان سړی او کامل درویش دی . چا چه تا ته
څه ویلي دي ، د کینې او حسد له مخه دي . جانس خان
ملک حبیب راوغوښت او ویې راټه . ده بیا د ولس زړونه ولیه

راټولي کړلي . کابل ته ولاړ او صلته یې د میرزا حکیم وزیرانو ته ورکړلي چه د میاروښان د مرګ حکم وکړي . مګر میرزا حکیم دی کابل ته را وغوښت . په کابل کښې یې قاضي خان نومي لوی عالم واستاوه . هغه ور سره خبرې وکړې او پوښتنې یې تري وکړه چه خلك وايي ته ځان ته مهدی وايي ، ځان نبي بولې او د حی دعوه کوې .

ده وویل : دا دروغ دی او د ښمنا نو تور دی . زه ځان هادی او ولي بولم او د الهام دعوه کوم . هغه تری بیا پوښتنه وکړه د الهام او وسوسې د رحماني او شیطاني غږ ترمنځ څه فرق دی ؟ ده وویل : هره ندا او الهام چه د آیت ، حدیث او بزرګانو له وینا و سره برابر وی ، هغه رحماني دی . قاضی خان وویل : « ستا په پوهه او عقل دی رحمت وی » . نورې پوښتنې یې هم ورځنې وکړې او په آخر کښې یې ورته وویل : یارك الله علیك یا شیخ او کامل پیر . بیا قاضی خان میرزا حکیم ته د ده صفت وکړ چه کامل پیر دی . میرزا حکیم وغوښتل چه د ده مرید شي ، خو وزیرانو ورته وویل : چه افغانان زمونږ رعیت دي ، همیشه ورسره جنګونه کوو ، خراج ترې اخلو او بندیان نو یې . که میرزا د ده مرید شي ، نو بیا مونږ کله دوی نه خراج او باج اخیستلی شو ؟ که نه دا کار کوې ، نو زمونږ کندا ره ګرانه

مومن به اکبر باچا ته ولاړ شو .

په دې خبره میرزا الدخېل عزم نه وکړ ځید . ده ته یې ووېل چه پښتانه ستا پر قدر څه پوهېږي ؟ ته په دوی کښې څه کوې چه اوسې ؟

ده ووېل : زه په دوی کښې پېدا شوی یم ، نو باید دوی ته لاړ و ښیم .

پس له هغه یې په ښه شان رخصت کړ او پېښور ته واپس ولاړ . د هغه وخت د جانس خان پر ځای معصوم خان د پېښور صوبه دار شوی وه . نو میاروښان له پېښوره اشنغر ته ولاړ او هلته یې له مامنزو سره د بره علاقه پېدا کړه . د غلته دوه سرداران وو ، یو پاینده خان نومېده او بل بهار خان . د بهار خان زوی علیخان ته یې خپله لور کمال خاتول ورکړه او د بهار خان لور یې خپل زوی شیخ عمر ته وکړه .

په اشنغر کښې ده ډېر مریدان پېدا شول[1] او د پیری مریدی انګازه یې هرې خوا خپره شوه ، تر دې چه د مامند و یوه ښځه چه (دلی) نومېده او ډېره ښه سیرت او صورت خاونده وه ، د میا مریده شوه او بیایې ورسره نکاح هم وکړه . په آخر کښې میرزا حکیم ، معصوم خان ته

(۱) تاریخ مرصع لیکې چه روښان تې یې د اشنغر په کلو ډېر کښې ځا ورکړي وه (۲۲۹) مخ

د روښان د نيولو امر وکړ . دی له اشنغر نه پښتونخوا ته والاړ د غلته يې د مغلو سره لومړۍ جنګ وکړ او په د غه ځای يې (اغان پور) نوم کېښود .

میاں روښان د د غه جنګ له شروع نه دوه نيم کاله وروسته په (۹۸۰) ه کښې وفات شو .

# خليفه ګان او مريدان يې

د اشنغر د استوګنې په وخت کښې د ده د تبليغ وړانګې حسن ځای ته ورسيدې . په د غه علاقه کښې يو (تاجي) نومې پيروه چه له ده سره يې وليدل او خبرې يې ور سره وکړې، نو ويې ويل : چه کامل او مکمل سړی دی . بيا يې د اهم وويل : چه خدای له پښتنو نه دوه نعمته پټ ساتلي وه چه يو د توحيد علم او بل د موسيقۍ علم . اول يې د پير روښان په واسطه ور وښود او دوهم يې د حاجي محمد په ذريعه ورزده کړ . حاجي محمد د ده پيرو سازونو او نغمو جوړونکی وه .

کوم وخت چه د میاں روښان مسلك قوت وموند، نو د توحيد او تصوّف پيغامونه يې د خپلو خليفه ګانو په واسطه

د صوفیانو ، پاچاهانو امیرانو ته واستول چه نومونه یې پدې ډول دي :

۱ـ خلیفه دولت یې جلال الدین اکبر ته ولیږه او صراط التوحید یې پلاس ورکړ . هغه چه دغه کتاب وکوت ، نو ویې ویل چه ما پیر روښان په خپله پیري منلی دی . زه د ده حضرت خدمت ته تیار یم .

۲ـ خلیفه یوسف یې بدخشان ته د فخر الطالبین نومې رسالې سره میرزا سلیمان ته واستوه . هغه هم په خوشحالۍ سره ومانه او له سوغات سره یې واپس راولیږه .

۳ـ خلیفه ارزاني یې هند ته ولیږه چه تبلیغ وکړي او خلك له توحید او معرفت نه خبر کړي .

۴ـ خلیفه مودود یې کندهار ته واستاوه او هلته یې ډیر خلك په روښاني لړۍ کښې را ننویستل . دی ډیره موده په کاسیانو کښې پاتې شو . له دغه ځایه بیا سند او بلوچستان ته ولاړ . شاه یوسف علی ، عمر او خلیفه نور یې په روښاني سلسله کښې شامل کړل . خلیفه نور په کومله کښې اوسیده .

هغه کسان چه د خلیفه مودود په واسطه د میا روښان په مریدانو کښې شامل شویدي دادي : علی بړېڅ ، خلیفه خان صافي ، عبد الکریم شنواری چه د پښتو شاعر هم وه ،

سکندر خان کاسي چه يو ر ښتيني مريد وه ، خواجه عمران کندهاري او دده خدمتگار بلال او د غږ بلال زوی هلال .

**۵** — شيخ بايزيد ، د شيخ نعمت ورور يې ورکړه و او تيراته د تبليغ دپاره ليږلی وه چه بيا هلته د مغلو د لاسه شهيد شو. حالنامه وايي چه احداد به دده زيارت ته ورته ، نو د ليرې له آسه کوزيدهٔ او دده قبر ته به يې دعا کوله . د نورو مريدانو او پيرانو نومونه يې دا دي :

محمد ، کمال د خدای داد زوی چه د ميارو ښنان د تره زوی او د شيخ اسمعيل ورور وه . ابراهيم ، خواجه خضر ، يار خان ، شيخ نعمت ، عيسیٰ ، يوسف ، بلوخان ، ساك ، غزنی ، احمد ، سيّد علي ، حسين د شيخ حسن زوی ، شادی خان ، ولی محمد برکی ، علي شير ، عثمان ، محمود ، حاجي گدای سربنی ، ملك شاتي خيل ، اسحق خليل ، فريد خان دولت زی او دده زوی ، داود درويش — وايي چه داود درويش به حسب شرح خير البيان او مقصود المؤمنين لوستي — امير محمد ، او شاه ولی د داود زامن .

د ميارو ښنان د مريدانو په سلسله کښې د يوې مبرمنې صمه شامله وی چه نومونه يې دا دي :

زليخا د يعقوب لور ، شهر بانو ، شيخ زادی ، بار خاتون ،

رحمتي، سايره، فاطمه، شيرين، مبارك، بارکي، شاهزاده ګلد د درويش لور.

د ميار روښان په مريد انو کښې ځيني ملکان، خانان او مشران هم شامل وو چه نومونه يې دا دی:

۱- فريد خان دولت زی خدای داد خيل چه د تيرا په مستوره کښې اوسيده.

۲- داد درويش د فريد خان زوی.

۳- ملك اصغر ورکزی.

۴- ملك قاسم بنګښ چه خپله لور يې جلال الدين توروکړې وه.

۵- ملك تور دولت زی.

۶- سردار عبد الکريم توری.

۷- سردار پاينده خان مامنزی.

۸- سردار بهار خان مامنزی.

۹- ملك شاتی خيل.

۱۰- ملك سلطان احمد مومند (۱).

---

(۱) د روښان په مشهورو مريدانو کښې د ملا دولت شنغوری، مامنزی او امته خان اکوزی نومونه هم راوړل شوی دی.
(ورکه خزانه - ۲ ټوك - د ۱۴۲ مخ)

# شاعران او ادیبان

د میاړو ښتان د مریدانو په لړ کښې ډیر شاعران او ادیبان هم تیر شویدي چه مونږ یې د حالنامې له مخه نوموند او شعرونه په وړو سترو ډول راوړو :

۱- خلیفه مودود : په قام ترین وه او په سرهند کښې اوسیده . ده د مقصود الطالبین په نامه یو کتاب لیکلی وه چه د هغه عبارت وړه را نقل شویدي :

« د انکه پرسیده شد که جوانمرد کیست ؟ فرمود که جوانمرد آنست که خلق انجوه او راستر بود و به وقت خشم آهسته بود و طمع از خلق گسسته بود و به حضرت پروردگار دل بسته بود » .

۲- حاجي ګدای سړبني : دی په قام خلیل مومند وه . په بهتر یو ډ کښې له ړو ښان سره یو ځای شو ، طریقه یې ځنې وکړه او کامل سړی شو . شعر ئې دادی :

دا قلور څیزه لطیف دي     د فقیر په ځان ناساز دي
که ما فهم د لبیل و که     یو دیدن دی بل آواز دی
یو یې بوی بل یې مزه ده     بې یاوره دیره سبزه ده

حاجي گدای ناري کړې نه ومکی تللي څه وم
درویشي کړه راڅرګنده مخ ګویان کوري نه وم

۳ - داد درویش: دفرید خان دولت زي زوی دی چه د تیراپه مستوره کښې اوسېده . دمورلخوا دحالنامې دلیکوال علي محمد نیکه وه . حالنامه لیکي: چه ورکزو یو ځل جلال الدین ته شکایت وکړ چه د درویش نور شهزادګله میره نه کوي ، د اسېدکار نه دی ، ته ورته ووايه ! مخ راوغوښت چه لوړ دي چاته ورکړه . درویش ځواب ورکړ: مخ دخپل ځان واګمنده ده ، په منېته ترېتر وکړه ، که خوښه وي بنده ده ، که نه وي زور زیاتي پرې نه کوم . درویش په خپل ځای تیراکښې مړشوی دی . په حالنامه کښې داورو ستر شعر دده په نامه دی :

په مخ دي دوه سلسلې د خلو خاله عالم دې په بیعت که انبیاء اولیاء وانه
دکامل مخ آئینه دی دحق مخ پکښې لیده شي
دمرید قبله کامل دی وخپل مخ وته کاته شي

۴ - ایابګر: دعثمان کاسي زوی وه چه په تیراکښې دجلال الدین سره اوسیده . ته مخ ورو ستره احداد دلیښکرو مشروه . دېنګښو په جنګ کښې ورته احداد دخانی لقب ورکړی وه . دده دجنګونو او کارنامو نوري کیسې

د احداد په برخه کښې را غلی دی.

حالنامه لیکي چه ابابکر یو پرهیزګار سړی او د میا روښان د کورنۍ خدمتګار وه. جلال الدین دوه ځله لاهور ته د بي بي خاتول په ښتني تدلیږلی وه چه د اکبر پاچا له خوا په لاهور کښې نظر بند وه. په لاهور کښې ورته بي بي خاتول وویل چه کله ځما زامن جلال الدین ته ور سوي، نو زه سوځیږم په کورنۍ به دې لوی احسان وکې. ده یې دوه زامن خیرالله او میرزا جاني د شپې له خوا له لاهوره وویستل او جلال الدین ته یې ورسول چه هغه ورځنۍ ډیر خوشحاله شو او آفرین یې پرې وو ایه. ابابکر بیا له رشید خان سره هند ته ولاړ او هلته یې په شمس آباد کښې استوګنه غوره کړه. حالنامه وایي: چه ده په هند کښې په شعر ویلو شروع وکړه او په افغاني ژبه یې یو دیوان جوړ کړی دی چه مرآة العارفین نومیږی او ډیری یې نظیره قصیدې او څلوریزې یې پکښې ویلي دي. د احداد دیو جنګ په باب یې یوه قصیده ویلې ده چه یو څو بیته یې دا دي:

خیرالبیان بې کړه د وړاندې　　احداد خدای وته سجده کړه
صفدر رښتیا غازی دی　　چه یې توره په جنګ سره کړه
د سرباز شو ند پرې ښه شي　　چه استاد توره ستره کړه صص

۵ ــ خواجه محمد : دابابکر زوی او د میا روښان له مخلصانو څخه وه . دی هم لخپل پلار سره هند ته تللی وه او هلته اوسېده . حالنامه لیکی چه ده به ښه پښتو شعرونه ویل . دغه دوه شعره یې په حالنامه کښې راغلی دی :

(۱)

کامل رهبر دی لوی — شه واقف د دم له جوی
د هغو اوبو طلب کړه — چه بدن دې سپری خوشبوی
دا اوبه دی محیط شوی — تر ماغزه هم پاس تر موی
د خپل کان طلب نن وکړه — کان به تا کښې دی زر شوی
د کامل تلقین دریاب دی — د مشرك گومان پکښې وړ دوی
دین دنیا په هغه خوك — چې یې شو لو سپیڅ شوی
چه ښتینی عاشقان دی — وابه نه وړی ستا له کوی
له گمانه درست مخلص شې — چې یې ولیده سیك روی
خواجه محمد په جهان کښې — د مسکین بچه دی لوی

(۲)

د حضرت لار دې تازه کړه — ای روښانه حق نمای
طالبان دې بینا کړی — د رځوکښ دی دوا هم سای
دیر گمراه دې پر لار کړی — د مضلو رهنمای

چه د زړه سترګی دي ورکړی هیڅ به نه وینی بی خدای
ویې طالب دي دی ویستلی د ګومان د سوېښ له لای
چه یقین یې زور ور شو نور به نه خوځي له ځای
هیڅوک د ور خبر نه کړی د مسکین عارف له رای
خواجه محمد دي قناعت کړ لوی غنی به شی ګدای

---

۴ - علی محمد مخلص: د ابابکر زوی او د غدد - خواجه محمد کشر ورور دی. دی د پښتو او پارسی ښه شاعر او حالنامې لیکوال هم دی. علی محمد د خپل پلار سره په هند کښې او سېږه او د رشید خان له ملګرو څخه وه. حالنامه یې د صفر په میاشت لیکلې ده.

علی محمد په هند کښې له میرزا انصاري سره هم نښتې ارتباط درلود. دی په حالنامه کښې لیکی: چه میرزا له ماسره ډیره مینه درلوده. د توحید په علم کښې می له ده نه فایده اخیستې وه. د شاجهان پاچا په وخت کښې زه ورځنی رخصت شوم او ویسی ته د خپل ورور لیدو او د پلار د قبر زیارت ته لاړم.
علی محمد د هند په دکن کښې استوګنه درلوده. د ده ژوند تر (۱۰۶۹) پورې څرګند دی، ولی چه په د غه کال یې د جلال الدین د زوی حادثه یاده کړې ده... د مرګ نېټه یې نه ده ښودلې.

مخلص د پښتو اشعار و یو دیوان هم درلود چه قلمی نسخه یې د لندن په موزیم کښې خوندی ده او د تصوف او توحید په باب ښه شعرونه لري . د مخلص یو څو فارسي اشعار په حال نامه کښې راغلي دي[1] :

هر که یخ بیند نه بیند آب را کوردل بشناس آن د واب را
آنکه بینادل بود از فیض رب آب بیند یخ نه بیند این عجب

---

با رقیبان شاهد است و گنج زر بی مار نیست
اندرین باغ جهان بین شاخ گل بی خار نیست
هر کجا صدکام باشد پیش او غماز هست
هر که او مقبول شد بی حاسدان ناچار نیست
با محمد جنګ دارد بوجهل شیطان انس
بی عدو و حاسدان بین سید مختار نیست
مخلصا از قول و فعل حاسدان بد مکهر
بی غم و بی رنج اندر هر زمان اخیار نیست

---

شهنشاه باید که واقف بود بالفاظ هر قوم عارف بود
چو دانا باسما شد آدم ببین خلیفه شد از حق بروی زمین

---

پښتو بیت :

ای مخلصه کړ دانایي مولا غواړه  دین دنیا که دآشنا پرځې نشان

۷ - ارزاني : د روښان په سلسله کښې تر ټولو نومیالی لیکوال او شاعر ارزاني دی . دی په قام خویشکی وه او په (قصور) کښې اوسېده . ملا ارزاني د مرأة المحققین په نامه یو کتاب لیکلی ؤ او د پښتو اشعارو یو دیوان یې هم درلود چه بې نظیره خلو ریزې یکښې وې . دی بیاد خلیفه درجې تر رسید . حالنامې له مرأة المحققین نه دغه خبرې رانقل کړیدی :

«ای دوست ! علم خدا فراوان است . این گفته فقیر افغانست . ولادت صوري از پدر و مادر است و پرورش از شیر است و ولادت معنوی از خود است و تربیت از پیر است ».

۸ - دولت : د روښاني سلسلې بل نومیالی شاعر دولت لواڼی دی . پلار یې دادو نومېده چه په تیرا کښې اوسېده او د احداد په لښکر کښې یو تکړه جگړن ؤ . دولت د میرزا انصاري له مخلصانو او شاګردانو څخه ؤ او د (دکن) په جنګ کښې (۱۰۴۰ هـ) له میرزا انصاري سره ملګری ؤ . حالنامه وایي چه دولت د دادو زوی هم په

په جنګ کښې زخمي شوی ؤ . د دولت ژوندتون (۱۰۶۹هـ) پورې څرګند دی ، ځکه چه ده په یوه قصیده کښې د —
حادیث اد د مرګ یادونه کړې ده او حادیداد په د غم کال کښې وفات شوی دی . لدې نه معلومیږي چه د دولت ژوند پېښتی (۱۰۷۰هـ) پورې رسیدلی وی .
۹ — ابابکر : د ابابکر نور حالات هم په حالنامه کښې راغلی دی چه د پیر روښان پورې دی . وائي چه د جهانګیر باچا په سلو — پیرو دارانو کښې یو ابابکر هم ؤ . ده په پښتو شعر کښې د غم مطلب ویلی دی :

ابابکر سرفراز شو په عالم کښې — چه یې خپله حضرت شاه یاد کړه سلو
ظاهري بادشاه سایه د الهي دی — شکر اند دلوی بادشاه ده د ویلو

یوه ورځ ورته بادشاه وویل چه په روه کښې خوشحال دوې که دلته ؟ رښتیا ووایه ! ده وویل : هغه وخت چه زه په ولایت کښې وم ، د حضرت امیران به زمانې پوښتنې له خیبر نه تیریدی نه شول . اوس د پادشاه یو هندوی په لاره ځي ، پیاده ګان یې زما آس په لاره کښې د روي .
حالنامه لیکي چه جهانګیر پادشاه به زیات وخت د مهربانۍ له مخې له ابابکر سره په افغانی ژبه خبرې کولې . مهابت خان د جهانګیر سپه سالار د شهزاده خرم د بغاوت د غلي کولو

د پاره ابابکر او اسمعیل کنډهارۍ هم له ځان سره بیولي وه .
چې جنګ وګټل شو ، نو د اوه‌یسي حاکم باقرخان ابابکر
له ځان سره وساته او بیا یې د میدني پور قوځه ارۍ ورکړه .
په دغه وخت کښې وزیر باقرخان د احداد د مرګ خبر ورکړه .
د یوې ته چراغي ، یار انوتیي وویل چه نن دغه د ښمن
په غشي وویشتلم . خدای خبر که ژوندي پاتي شم . آخر
یې په ګیډه کښې پیچ پیدا شو . له نسه یې وینه جارۍ شوه .
میدني پورته ولاړ . پنځه ورځې پس هلته مړ شو او په
خپل انګړ کښې ښخ شو . مهابت خان چه دده له مرګه خبر
شو ، نو ویې ویل : اوس مې د اوه‌یسي له ملکه زړه -
جمع شو !!

# د روښان زوزاد

په دې برخه کښې به تاسو د روښان زامن او لمسي
وګورئ چه دوی د خپل پلار او نیکه د لوی مرام په پوره کولو
کښې څومره قرباني ورکړې ده او دیو لوی مغلي طاقت سره
یې څومره اوښګه د غرې وهلي دی .
په دې لیکنه کښې نومیالي او مشهور کسان د سرلیک

په توګه راځي او نوري په منځ منځ کښې بنودل کيږي.

# شيخ عمر

دمیاړ روښان مشر زوی دی چه دده له مرګ نه وروسته، دده په ځای کښېناست. دشیخ عمر جنګونه او جګړې د یوسفزو په لړ کښې شوی دی. په دغو جنګونو کښې تول ورور نه او کوړنۍ ورسره ملګری وو.
حالنامه وایي: چه ګوجرو غوښتل چه د میاړ روښان مړي له قبرنه وباسي. شیخ عمر په خوب کښې ور باندې خبر شو. له لښکر سره ورغی او ګور کښتان یي ونیول او د ګوجرو مالونه یي راوستل. په دې باندې حمزه خان یوسفزي[1] ور سره دښمني شروع کړه. دوی له خپل ځایه وکوچیدل (سوړ کاوړه) ته ولاړل. هلته وروپسې دحمزه لښکرې ورغلي او سخت جنګ وشو. په دې جنګ کښې حمزه خان ماتې وکړه او دوی (خانپور) ته ورسیدل. وایي چه شیخ عمر به د میاړ روښان

---

[1] دغه حمزه په یوسفزو کښې اکوزی و.

د مړي تابوت او قبر ليا ۰ الدخان سره ګرځاوه .

بيا ورسره يوسف زوډ ديحيي په مشره يو ډېر سخت جنګ وکړ، خو په دې جنګ کښې يې هم ماتې وخوړه . په دې جنګونو کښې شيخ عمر او ، ونباني ولد د اباسيند غاړې ته ورسيدل . حلته ورسره دلزاکو جګړه وکړه . په دغه جنګ کښې درې تنه نوميالي خليفه ګان : خليفه ايوب ، ملا ذکريا ، ملا عمر خوښکي او نور ډېر ياران شهيدان شول .

د اباسيند د غاړې په جنګونو کښې شيخ عمر ، خيرالدين او دولت درې واړه د دلزاکو له خوا وژل شول . نورالدين د مانبام په لمانځه باندې ولاړ و چه ګوجرانو وواژه . دلزاکو د شيخ عمر او دولت سره نه او خيرالدين لاس يوسفزو ته يوړل او صغوي بيا بي بي شمسو ته ولېږل چه د غوښته ورته ملي په سيمه کښې وه . صغی درې واړه ښکل کړل چه په تاسو دې رحمت وي چه په خپله لاره تينګ پاتې شوئ او د حق په لاره کښې مو سر ورکړل . بيا يې يوسف زو ته وويل : زما زامن په غلا او زناکښې نه دي وژل شوي چه تاسو يې ماته سر ونه وړل .

له بي بي شمسو نه چا پوښتنه وکړه چه دلزاکو ستا له زامنو سره داسې بد سلوک وکړ ، خداى بروسره څه وکړل ؟

دې یو بو ځي له ځمکي را ووېست، پر او بو کښېږي وا چاوه
او وېي ویل : دغسي به يې خدای سپك او وروك کړي .
دیوسف زو په باب يې وويل چه دوی به هم خدای
پریشان کړي .
حالنامه وايي چه بيا په یوسفزو باندې ځلو ر کاله
کاختي را غله ، هرې خواته ولاړل او پریشان او
سرګردان شول .
دشیخ عمر د غه جنګونه په (۹۸۹) ه کښې پېښ شوي دي
او په لویه غزا یاد يږي . په دغه کال د میاروښان په
زامنو کښې يوازې کمال الدين او جلال الدين ژوندي
پاتې شول . په دغه وخت کښې د دوي په امر د میاروښان
د مړي تابوت (بټه پور)[1] ته ولېږل شو او هلته د محمد کمال د
قبر په خوا کښې ښخ کړی شو . حالنامه وايي چه اوس ډېر
خلك د جمعې په شپه زيارت ته ورځي . د قبر په خوا کښې يې
يو لوی ميدان دی چه ځوانان پکښې لوبې او نېزه بازي کوي .

(۱) دغه نوم په حالنامه کښې (بټه پور) لیکل شوی دی . د ښاغلي عبد الاکبر
په « روښانيان » کښې د (بیتور) په شکل راغلی دی (۹ مخ) . کیدای شي چه د
وزیرو په لهجه کښې بټه پور دغه ډول ویل شوی وي . مولانا عبد القدوس د
خیر البیان د لومړي چاپ په سریزه کښې (۴۰ مخ) او عبد الاکبر د حالنامي په حواله تول
په دې خبره سره یو دی چه د بایزید او محمد کمال قبرونه دواړه د علاقې سپه یوه
ادیره کښې دي .

# جلال الدین

د لوی غزا په وخت کښې جلال الدین (۱۴) کلن و . په دغه لویه جګړه کښې دی د جلال الدین اکبر په بند کښې پروت او نږدې تر یو کال پورې بندی و ، خو بیا له بنده وتښتېد او ځان یې تیرا ته ورساوه . هلته یې د تیرا او بنګښو ترمنځ په (زاوه) کښې ځای ونیو . بی بی شمسو او نور خپلوان یې د توتی له غاړې را وستل او ټول روښانیان سره یو ځای راغونډ شول . په دغه ځای کښې ارغو ورکزي خیله ورپره په نکاح ورکړه او ښځه سره ځوانان یې ورسره ملاتړ ودرول . بله ښځه یې بی بی بصریه نومېده چه د ملک قاسم بنګښ لور وه . د جلال الدین لومړی جنګ د اکبر باچا لښکر راجه مان سنګه سره په خیبر وشو چه ډېر راجپوت پکښې مړه شول . وایي چه عاقل علی شېرزی په دغه جنګ کښې ډېره توره کړې وه . بل جنګ په (۹۹۴ ھ) کښې وشو او د مغلو قافله په ډېره سختۍ له خیبر نه تېره شوه . دریم جنګ د پېښور د صوبه دار سید حامد بخاری سره وشو . په دې جنګ کښې خلیل مومند هم د ده سره ملګری وه او د دریا خان زوی حیات خان د کومک او ملاتړ

دپاره وړاندې ولاړل . په دغه جنګ کښې په خپله سید حامد هم ووژل

شو . څلورم جنګ هم په خیبر شوی دی . په دې جنګ کښې

زین خان کوکه ، شاه قلی خان ، شیخ فرید بخشی او راجه مان سنګه

د جلال الدین په مقابل کښې جنګېدل . په دې جنګ کښې مغلو ته

د بر کومک را ورسېده ، نو جلال الدین بنګښو ته ولاړه . پنځم

جنګ په (۹۹۵ هـ) کال د بنګښو په خوا وشو . په دې جنګ کښې ـــــ

عبد المطلب خان ، محمد قلی بیګ ترکمان ، قنبر بیګ ترکمان

او احمد بیګ کابلی شریک وو چه د بنګښو د کمزورۍ په وجه

جلال الدین ماتې وخوړه او د تیرا ځنګل ته ولاړه . په دغه جنګ

کښې جهان خان په خپل شپږ تورو وکړه او شهید شو . د دغه

جنګ نه وروسته د غوری خېلو کښې چه تیرا ته تللي وې ، واپس

پېښور ته راغلي چه په زړه ورته کښې ورته بګرام ورکړی . خو د

حیات خان او نورو کښې هند ته ولېږل شوې او هشتنګر

(پېلواړه) کښې مېشته شول .

په دغه وخت کښې د اکبر پاچا له خوا په اپریدو او ورکزو

د بیرته راغلي چه جلال الدین له خپلې خاورې و باسئ او د دوی له

کورونو نه دوه تنه بندیان راکړئ . اپریدي ورکزي سره

کښېناستل ، سلا یې وکړه چه د شیخ عمر زوی احمد د سره له موږه

او د میرزا امور به پر عمل ورکړه .

دا خبره په جلال الدین ډېره سخته ولګېده. دی د اپرېدو سره ناست وُ چه د مېرزا مومن زاغله او جلال الدین ته لګیا شوه چه په خپل لاس می مغلو ته مه ورکوه او و ږه کی مېرزا له مانده مه بېلوه! جلال الدین د اپرېدو ملك عثمان ته مخ را واړوه. ده ورته وویل: چه اپرېدو ورکړه. له مغلو سره وعده کړې ده، زه یوازې د دې کار مخه نه شم نیولای. د جلال الدین پر مخ د افسوس اوښکې روانې وې او له ناچاری یې احداد سره له موړ بی بی بسی او د مېرزا مومن زلیخا په لاس ورکړل. جلال الدین له ډېره غمه خوږند په یوه لوړه ناست وه، د زلیخا سترګې چه پرې ولګیدې، د اسې چیغې وکړه چه د تیګی زړه یې ویلی کاوه. غرض دا چه اپرېدو د غدرې ته د مغلو په لاس بندیان ورکړل.

جلال الدین په تیرا کښې ډېر تنګ شو. د خیر الدین زوی ولید او د بې د (خرمانې)[1] د ساتنې د پاره پرېښود او پخپله باجوړ ته ولاړ چه هلته بی بی خاتول او د محمد کمال زوی وحدت علي او سېدل. دلته د مغلو له خوا جنګ راغی، خرمانې ونیوله. جلال الدین خپله کډه په باجوړ کښې له وحدت علی سره پرېښوده او پخپله د کابل په لار د بلخ په نیت روان شو چه له عبد الله

---

(۱) خرمانه د لښکر زوی په علاقه کښې د رو غنډانیانو مرکز وه.

اوزبك تر کومك وغواښې . وحدت علی د جلال الدین کره

او مور د خوست په لار وزیرو ته ولیږل . په دې وخت کښې د

بی بی بصریٰ له نسر چه د ملك قاسم بنګښ لور وه ، الله داد

پېدا شو . بی بی شمسو د جلال الدین مور د غلته هم خواښوله نه وه،

نو خپله نې ورو او لمسیان یې کندهار ته بوتلل . میرزا خان

هم ور سره ؤ . د دادك کندهار ی پر ملګر تیا د علی محمد

د نیکه کور ته ورسېدل . تر څو چه جلال الدین په بلخ کښې ؤ ،

مور او کوشنی یې په کندهار کښې د کاسیا نوسره په پټه اوبره

اوسېدل . عبد الله اوزبك له جلال الدین سره څه کومك ونکړه

بلکه د نیولو وېره یې پیدا شوه ، نو له هغه ځای نه را غی او بنګښو ته

را ورسېد .

بیا یې خیل یاران راټول کړل او تیرا ته را غی . په دې

وخت کښې د روښاني کورنۍ ځینې کسان په باجوړ کښې وو ،

تیرا ته یې تګ را تګ کاوه . یو ځل دد ې کورنۍ د ړې تنه

ولیږاد ، وحدت علی او بی بی خاښول په لاره کښې د زین خان

کوکه پلاس کښېوتل او لاهور ته یې بندیان ولیږل . جلال الدین

په دې پېښه ډېر غمجن شو . د زین خان کوکه له فوځ سره یې

سخت جنګ وکړ او مغلو ته یې پوره ماتې ورکړه .

په دې وخت کښې د شال ډېر کاسیان له کړ وسره تیرا ته

لاهل اوله جلال الدين سره يوځاى شول . د حالنامې مؤلف ليکي : چه زما پلار او تره يوسف چه د تجارت د پاره لاهور ته تللي وو . هلته يې له بي بي کمال خاتون سره وليدل . په خبرو کښې د جلال الدين يادونه وشوه . يوسف بېخي بې خوده شو . تجارت يې پرېښود او تيراته يې مخ ور ساوه ، نيمه شپه وه چه د بي بي شمسو تاڅوته ورغی . خدمتگاره راووتله پوښتنه يې تري وکړه چه ته څوك يې ؟ ده ورته وويل : دعثمان کندهاري زوي يوسف يم . بي بي وپېژانده . مهرباني يې ورسره وکړه . بيايې جلال الدين ته وليږه او د هغه په ملاتړ کښې شامل شو .

په حالنامه کښې علي محمد د جلال الدين د لور بي بي نور خاتون له خولې د يوې قصې راوړل دي . يوه ورځ يې دا ده چه يوه ورځ يوه سړي په غويي باندې شلغم بار کړي وو او جلال الدين ته يې وړل . نو يوسف ورته وويل چه دا شل غوماندنه ما پيوته مه دوړه! که نه غويي به درته گوډ کړم . هغه دده خبره ونه منله او ده ورته د غويي پښه ماته کړه . له دې خبرو نه چه جلال الدين خبر شو ، نو ويي خندل او د غويي تاوان يې د غويي خاوند ته ورکړ . په دې وخت کښې د شال د پوکاسيان له کلي و سره تيرا ته لاهل اوله جلال الدين سره يوځاى شول .

جلال الدین د (۱۰۰۹ هـ) شاوخوا د بنګښو په لوړې لـه مغلو سره څو جنګونه وکړل . په یوه جنګ کښې غلو خان شنواری شهید شو . آخوږي ینګښ تابع کړل ، بیا یې د بیلوټ (۱) ښارونو او تر عیسی خیلو او سنبل پورې ورسید .

جلال الدین په (۱۰۱۲ هـ) کښې د غزنۍ جنګ ته روان شو . د غزنۍ پلا یې د ښې لـه خوا یرغل وکړ ، هغې ونیوله څو ورځې پکښې وه ، خو بیا د هزاره ؤ په لوی جنګ کښې زخمي شو ، تښتې پرې غالبه شوه او یوه شوچه مړه ، نو ګوتو یې راوکښله ، یارانو تري ورکړه چه دا د احد اد په ګوتو کښې واچوې ، زما نائب توب او زما لور (الائي) دې د ده ته مبارکه وي . د غه وخت یې روح والوت . د ده مړی یې په یوه غار کښې واچاوه او نور ملګري ورته روان شول وایي چه په د غه جنګ کښې (۱۳۱۱) کسانهاریان مړه شوي وو . پاتې کسان په ډېر کړاو خپل ځای ته ورسیدل او روښانیان د جلال الدین په مرګ ډېر غمجن

---

(۱) حاجي زرداد خان په خپل تاریخ «صولت افغاني» کښې لیکي :
بلوټه د سینده په غاړه یو زوړ ښار ؤ چه راجه (بل) جوړ کړی ؤ . دی وایي چه جلال الدین په قوم او رمل افغان دی چه د تیرا او بنیر په غرونو کښې یې زیات پښتانه له پادشاه نه یاغي کړي وو (مخزن ۴۷ - ۷۶)

شول . حالنامه لیکي چه یو هزار د جلال الدین سر اولاسونه غوڅ کړل او اکبر باچا ته یې یوړل، خو هغه سړي سید وګڼل او هیڅ یې ور نکړل .

بیا یو کال پس، احداد د شیرخان کندهاري زوی حسین د جلال الدین په هغه وکو پسې ولیږه، د هغه ځای معلوم وُ، مګر چه ورغی، هغه وکي په غار کښې ننوه . په یو کلي کښې په لوټی نومی سړي پېښ شو، هغه ورته وښودل . دی بیا ورغی او په بوجه کښې یې واچول . د ور دګو په یو کلی کښې پړي شپیړ راغله، بو کور ته ننووت، نو څوك ننوو، د وه نجوني وې، هغوی ور له د غه وکی وسائل ، خلك پرې خبر شول، خو د د غه نجونو په غیرت یې خپل امانت تیر اته ور ساوه . احداد د پر خوشحاله شو، امر یې وکړ چه د غه وکی د میا روښنات د قبر تر څنګه ښخ کړئ او همد غسې وشول .

# احداد

دشیخ عمر زوی او د میار وښان لمسی دی. دی په ورکوتوالی کښې د خپل مور سره په (مار هره) کښې اوسیده، خو چه ځلمی شو او بلوغ ته ورسیده، نو جلال الدین استاذی ورولیږل او په پټه یې تیرا ته راووست او مور یې هلته مړه شوه. کله چه ده د جلال الدین له مړینې وروسته د روښانی ډلې د مشرۍ او خلافت واګې په لاس ونیولې، د هزاره ؤ او وردګو دلوټ امر یې وکړ. په دغه لوټ کښې هغه دوه نجونې هم ونیول شوې چه د جلال الدین هغې وکې یې په کور کښې ساتلې وې، خو بیا د حسین په سپارښتنه د احداد له خوا پرېښودل شوې.

احداد یو نورانی ځلمی، یو ښه ملګری او مهربان مشر ؤ. سربېره پر دې یو عالم، عادل، قانع او متوکل سړی ؤ. د غنیمت پنځمه برخه به یې خپلو خپلوانو ته ورکوله او نوره به یې سره برابره ووېشله. حالنامه لیکي چه دی په انصاف او عدالت کښې ډېر مشهور ؤ. دا هم وايي چه په هوا الوتل، د اوبو د پاسه تلل، په اور کښې ننوتل اسان دي، مګر د تلې ډنډۍ برابره ساتل او سم تول یعنې عدل او انصاف کول

ډېر ګران دی . ده به هره ورځ خیرالبیان او مقصود المؤمنین
خلکو ته اوراوه . وایي چه احداد به همېشه قوالي ساز هم اورېده
او قوالان به ورسره ډېر وو .

## جنګونه :

د احداد په جنګونو کښې د جلال آباد
جنګ ډېر مشهور دی . په دغه جنګ کښې د قلیچ خان زوی
چین کلیچ د ده د ماتولو دپاره مقرر ؤ . تر زور ور جنګ خپل
وروسته مغلو ماتې وکړه . وایي چه په دغه جنګ کښې الله داد یا
ډېره توره وکړه .

د کلیچ خان له ماتې وروسته د احداد لښکرو په (کامه) یرغل
وکړ . د غلته (قاسم کوکه) خان ټینګ کړی ؤ، خو په جنګ کښې
د روښاني ځلمو له لاسه ووژل شو . ابابکر هم په دغه جنګ کښې
ښه توره وکړه او له خپل لاس سره په سیند ور ګډ شو، خو خلیفه
خانا کند هاری په سیند کښې ډوب شو .

بل جنګ یې د بنګښو په سیمه له شادي بېګ او محمود بېګ سره
وکړ چه دواړه د مغلو تانه داران وو . ددې جنګ مشر ابابکر ؤ
چه دغه دواړه ورونيي ووژل او سرونه يې احداد ته راوړل

ابابکر د احداد د لښکرو یو غښتلی سرلښکر ؤ چه د خانی
خطاب یې درلود او نور غښتلي پهلوانان یې دا وو :

فتح خان د مم خان زوی چه یو تکړه سرلښکر ؤ او دخانۍ
لقب ورکړ شوی ؤ . بل پایاو بنګښ هم یو غښتلی جګړن ؤ . ده ته
هم دخانۍ لقب ورکړ شوی وه . د غه شان اسمعیل کند هاری،
خالو غلجی ، حبیب هسوړی ، غیبی خان غلجی ، روښ اکتهاری
او بهتونی هم دده د لښکر توریالي سپاهیان وو .

د ادو د دولت شاعر پلار هم د احداد په لښکر کښې یو جګړن
سړی ؤ . بل نوی جنګ دکابل په شاوخوا کښې شوی دی . په دغه
جنګ کښې احداد په خپله دولس زره لښکر سره دکابل په لور
وخوځېد . دکابل اوه کروهی ته چه ورسید ، نو په شاه بیګ
وار خطایي راغله ، خوله کلا ندراو ووت ؛ د شاه بیګ
او رشید خان روښانی لښکری سره مخامخ شوی . کلک جنګ
وشو او د شاه بیګ لښکر ماتې وکړه . بیا بل جنګ وشو او
میاداد په کښې زخمي شو . په دی وخت کښې احداد دکفار و غره ته
وخوت ، د پاسه ورته دکفارو لښکر راووت ، لاندې ورته
د شاه بیګ لښکر ؤ . د دواړو ترمنځ ایسار (حصار) شو ،
خو په توره یې ځانونه خلاص کړل او (سردوړه) ته ورسیدل او
بیا د شنوارو په لار (چرخنی) ته لاړل . احداد بل ځل بیا
د اباکر په مشرۍ یو لښکر کابل ته روان کړ ، خو په کوړه مد کښې
د مغلو تاند دار (عزیز کوکه) سره مخامخ شول . د نړ سیراڼ

دکلا سره نژدې جنګ ونښت او عزیز دیوه داوی رو بنسا نی
د لاسه ووژل شو . شاه بېګ د احداد د ماتولو او چرخنې
دنیولو دپاره قاضي زینت الله دڅمکنو په لار راولیږه ، خو
ده هم ماتي وکړه ، په خپله پکښې مړشو او سرئي احداد ته راوړل شو .
بل ځل ئي دخوست دکلا دنیولو دپاره ابابکر واستاوه . پنځه
زره ځوانان په بوچل کلا ته ننوتل چه یو حبیب ، بل بهتول ، بل دادو ،
او بل مسلی ؤ . کلا ئي ونیوله ، شیخ حسین ئي وواژه او ټول
خوستیان د احداد تابع شول .

په بل جنګ کښې چه احداد له لښکرخان بخشي سره وکړ ، د
احداد له لښکر نه زر تنه مړه شول . شاتي ورکړی په دی جنګ کښې
ډیره تورې وکړه .

# د احداد او الله داد خوابی : الله داد

د جلال الدین زوی اود احداد اوښی ؤ ، په ټولو جنګونو کښې سره
ملګری وو ، خو بیا ئي په منځ کښې ماتې پیښ شو . احداد به د غنیمت
په پنځمه برخه کښې د بي بي کمال خاتون زامن هم شاملول او ویل ئي
چه میاړه وښان دا د زوی په ځای بللي ؤه ، مګر الله داد ور سره نه منله .
لدې کبله بیا دی او میرزا خان له چرخنې نه خوست ته ولاړل او هلته
په قلندر کرته کښې دیره شول . په دغو وختو کښې شاه بېګ د خوست

علاقې ته راغی ، احداد لہ تیرانو ورغی . روښانیانو په ګړه لــه شاه بیګ سره جنګ وکړ او ماتې یې ورکړه . د ولجې په برخه کښې د احداد زړه له الله داد نه بد شو غمان انو هم د دوی په منځ کښې تیګې تکولې . آخر الله داد شاه بیګ ته د خپل ورتګ او زړې ورلیږ لوخیږ وکړ ، شاه بیګ له خوشحالۍ نه خوله د آسمان ته غوږ ز وله . الله داد دده په واسطه د جهانګیر باچا د لباره ورغی ، هغه ورته حکم او منصب ور کړل او احداد یوازې پاتې شو . دده په لښکر او یارانو کښې ګډوډي راغله . بنګښ سان تری جدا شول لکه میاداد ، کریمداد ، د جلال الدین زامن ، پیرداد د کمال الدین زوی او نور او پدې ډول د غدلوی مرکز ګډوډ شو . خوسره دې هم احداد په خپله اراده لکه غرکلک ولاړ و . مهابت خان صوبه دار دده د ماتولو دپاره هڅه شروع کړه . الله داد یې هم له ځانه سره ملګری کې . د (فرمانی) په دره مغلي لښکر ورغی ، خوځېرې یې ونه موښند .

بل ځل بیا مغلو د احداد د ځپلو اراده وکړه . پدې وخت کښې دې بیخي یوازې و او نور ملګري یې د مغلو سره یو ځای شوي وو لکه میرزا خان ، ابابکر او نور ، خو دا ځل هم مهابت خان نا کام شو . له بادشاه نه وویریده . غوښتل یې چه لاس په الله داد پاک کړي ، نو په هغه پسې یې لښکر ولیږه ، هغه تری قلندر کوټ ته ولاړ .

واړه واړه جنګونه نور هم وشول . پادشاه چه د الله داد له مرګه
خبر شو، نو دده ورور او زوی یې په ګوالیار کښې بندیان کړل .

آخر الله داد خیل عذر باد شاه ته ولیږه، هغه ومانه
او دی له قلندر کوټ نه راکوز شو، د شوال په لار لاهور ته روان
شو . په دې تګ کښې ورسره میرزا خان، ابابکر او اسمعیل له
ټولو کندهاریانو سره ملګري وو . د شوال دکوتل په بیخ کښې
یې د (منتوی) په بینار کښې د شیخ سراج الدین د قبر زیارت
وکړ . بیا د لوهانو په ملك ور تیر شول او د کسي غره ته ورسیدل .
الله داد له د غه ځاي نه د باد شاه حضور ته راغی، هغه ور سره
مهرباني وکړه او د شمس آباد پرګنې د جاګیر په توګه ورکړه .
بیا ور پسې میرزا او ابابکر هم ورغلل او هلته یو ځای شول .

## داحداد او رجبهاري جنګ: د احداد

د جنګونو سلسله دده تر مرګه پورې په تیرا کښې روانه وه . دا
ځل د مهابت خان له خوا رجبهاري د احداد د ځپلو دپاره
و ټاکل شو . د سمبادی (۱) دکوتل په بیخ کښې، مغلي لښکر د

---

(۱) تاریخ مرصع کښې دد غه جنګ ځاي د (سنګ پاڼي) غابنی
لیکل شوی دی (۲۵۱) مخ ، خو ښاغلی صفي الله خان په یو یاداشت کښې
چه ځما سره دی ، د غه نوم (سنګ پاڼه) لیکل شوی دی . دی وایي چه
سنګ پاڼه د اسمعیل زو علاقه ده او اوس د ساماني په نامه یادیږي . د
حالنامې سمبا وه او ساما نه سره نږدې ښکاري .
(رشتین)

سيد غيرت پر لښکري په جنګ لاس پورې کړ . پنځو وګړو[1] په غيرت خان حمله وکړه او په توره يې ووهه . راجه بهاري د احداد په مورچه ورغی . د احداد ياران پرې ور پلېشېدل، کلک جنګ وشو . د راجه بهاري لښکر ماتې وکړه او ډېر لښکري يې ووژل شو . راجه بهاري د مانام په تياره کښې د تيرا لرخاو ته وتښتېد او ډېر غنيمت د احداد د لښکر و پلاس ورغی .

## دلواغر جنګ

: د راجه بهاري له ماتې وروسته مهابت خان بيا لښکر ټول کړ . اپريديانو د احداد پر خلاف پاڅون . ورکزو احداد ته وويل چې اپريدي د مغلو له خوا سره مونږ جنګ ته راوځي . بيا مونږ پرې ور دمخه شو . خو احداد دا خبره و نه منله او د تيرا له ملکه د ختکو غره لو ته ولاړ او د لواغر په لمن کښې يې ډېره وښوله . خو کالدې د غلته تېر کړل . کله چې ظفر خان د کابل صوبه دار شو، نو په احداد پسې يې لښکر کشي وکړه، لارې يې ور باندې بندې کړې . احداد له دې خوا نه خپلې مورچې مضبوطې کړې . يوه مورچه يې عبدالقادر ته وسپارله، بله بنګښو ته او په بله کښې په خپله و .

[1] پنځو پوړګړو کښې دولت زي او په دولت زو کښې فيروز خيل او د احداد د لښکر يو توريالي جګړن و، په دغه جنګ کښې شهيد شو .

بل ورځ د ظفرخان لښکر حمله ورشروع کړه . د عبدالقادر پر مورچه يې جنګ ور ونړاوه . جنګ له توري ټوپک نه غشو او کاڼو ته ور سېده . ځوانان له مورچو را ووتل او په دښمن يې ماتې ګډه کړه . د ظفرخان لښکرو بيا د احداد په مورچه حمله ور وړه ، ټوله ورځ يې جنګ وکړ ، خو مورچه يې ماته نه کړې شوه . په دوهمه ورځ يې بيا پېده وار او مورچو يرغل وکړ ، سخت جنګ وشو . د يرغل مړه شول او لښکر پرېشانه ولاړه . ځيني لښکريان د احداد مورچې ته ور غلل او ويل يې چه مونږ تومنی ګورو . تومنی د احداد پو سرو دګر ؤ ، د پرښ ړوړ او تورې ځن سرې ؤ . تومنی ور پاڅېد چه څه مقصد لرئ ؟ دوی وويل چه مقصد موستا په واسطه د احداد بادشاه ليدل دی .

آخر ور غلل ، احداد له هريوه سره روغبړ او خبرې وکړې او بيا رخصت شول . حال دا چه د پاچاهي هنګ سپاهيان به زيات د احداد ليدو ته ور تلل . پېدی د ول شپې مياشتي په جګړه او کېره کښې تيرې شوې . آخر ظفرخان شيخ حسن ته وويل چه د جنګ له لارې په احداد برئ نه شو موندلی . ښه داده چه د سولې خبرې ورسره وکړو . څو ته افغانان او مغل يې ور ولېږل . د هغې د پر قدر وکړ . بيا دوی عرض وکړ چه ظفرخان او شيخ حسن وايي چه د کابل د سولې حکومت به د بادشاه تاسی ته درکړي . عبدالقادر

زمونږ سره باد شاه ته ولیږه ، ده ته به هم منصب ورکړي او یک
صوبت به ستا او د باد شاه جګړه خلاص شي .

احداد وته وویل چه یونږ وی لږ ، هغه څنګه د ښمن ته
وسپارم ؟ دا کار نشم کولای . بل ورځ بیا راغلل چه ظفرخان
وایي چه پنځه او یا زره روپۍ واخله او دغه ځای پرېږده چه مونږ
یو څو کوټې وسېزو او د باد شاه له عتاب نه خلاص شو او بیا به یې ته
ورته راشه . احداد وویل : ستاسي په خوله باور نشته . که
زه دا ځای پرېږدم ، بل ځای مې هم په آرام نه پرېږدئ . زه
دې ګوښې ته راغلی وم ، خو تاسي دلته هم په کلار پرې نه ښودم . له
دې ځایه نه ځم ، څه چه خدائ غواړي ، هغه به کیږي . احداد
په دغلته وویل چه زما د شهادت وخت نږدې شوی دی . څوك
چه د پیر دستګیر تذکره نه لري ، هغه دې زده کړي . زه چه نه یم ،
ستاسي ټولګی به پریشان شي . ظفرخان چه له خبرو نا امیده
شو ، د شیخ حسن سره یې بیا د حملې او جنګ سلا وکړه . د ختکو
لښکر یې راوغوښت او په دریم مورچې یې حمله ور وړه .
احداد له ځینې مورچې نه وراغی چه دوی مرسته وکړي ، خو
په دوی کښې ماتې ګډه شوه ، آخر نا امیده شو . په دې وخت کښې
له لیرې هند د ټوپك په ګولۍ ولګید ، زخمي شو ، په ځمکه
ولوید . غلیمان راغلل او دی یې شهید کړ . د ده د شهادت

تاریخ حالنامې (۱۰۳۴هـ) ښودلی دی . تومنی تر آخره د احداد
په مورچه کښې وجنګېد، ټول وجود یې په غشو سوری سوری
ؤ، آخر یې هوښ بېهوشه او پرېووت .

عبدالقادر هم له مورچې نه پاڅېد، کور ته راغی . مور ته یې
وویل پاڅېږه چه د غلیم لښکر راورسېد . صخ ورته وویل
پلار دې څه شو ؟ ده وویل خبر نه یم . بی بی وویل : ته خو چه پلار دې
راندشي، زه نه ځم . عبدالقادر ورته وویل : ما د مرګ خولې ته
مه ورکوه، راځه سوره به چه ځو . عبدالقادر د غه وخت
دیارلس کلن ؤ . آخر یې مور او خور په اسونو سورې کړې،
د غوره په لور روان شول . د دښمن لښکر ورپسې را ورسېد .
یوه سپاهی د عبدالقادر د خور څادر ته لاس وراچاوه . په دې
وخت کښې د احدادیو خدمتګار کټوري په نیزه داسې وواهه چه له
زینه یې کښته وغورځاوه . آخر عبدالقادر له خپلو یارانو
سره غوره ته ورسېدل او ټوله ورځ یې د احداد په ویر تېره کړه .

علی محمد د حالنامې لیکوال د احداد په مرګ یوه پارسي ویرنه ویلې
ده چه یو بیت یې دا دی (۱):

تاج افغان درنگر از سر برفت    سر برهنه ماند شد افسر برفت

---

(۱) تاریخ مرصع د احداد په جنګیالو سردارانو کښې د یوسف اپریدي
او حضار میر ورکزي نومونه هم راوړي دي چه دواړه احدادیان وو . دا
هم وایي چه یوسف اپریدي یو هسې بهادر ځوان ؤ چه د احداد په ←

# عبدالقادر

عبدالقادر د احمداد ننګیالی زوی دی چه د پلار تر مړینې وروسته له خپلې مور سره تیراه ته ولاړ او ورکزو یې مینه قدر وکړ . د ورکزو په مشرانو کښې اصغر او هزار میر ددې کورنۍ نږدې دوستان وو او دی یې څه کم یو کال د تیراه په غرونو کښې میشته وساته . آخر چه د جهانګیر د مړینې واقعه پېښه شوه ، ورکزی راټول شول او عبدالقادر یې د پلار په ځای د مشرۍ په ګدۍ کښېناوه او اپریدي مشران هم د ملاتړ د پاره ورته ورغلل . په دغه وخت کښې عبدالقادر له تیراه نه خپل لښکر[1] وویست ، په (هنګو) کښې یې په جلال خان ګکړ باندې حمله وروړه ، ډېر ګکړ یې ووژل او جلال خان ته یې ماتې ورکړه . څه موده عبدالقادر د غلته دېره و ، په دې وخت کښې ظفرخان ته د (مین توش) د راتلو خبر ورسید .(۱)

---

← لښکر کښې یې ساری نه درلود چه بیا مغلو په قول او وعده را وستل او په پانی پت کښې یې ځمکې ورکړې (۲۰۴) مخ . (۲۰۳)

(۱) په تاریخ مرصع کښې دغه نوم (یلنګ توشن) لیکل شوی دی یلنګ توش یو ازبکی پهلوان دی چه په لوڅ سینه به د جنګ میدان ته ورته ، یلنګ په ازبکی کښې لغړ او توش سینې ته وایي .

د پېښور کلا یې سعید خان ته پرېښوده او پېخپله کابل ته روان شو.
مین توش انیک د کابل شا وخوا ځایونه تالاکړل، څو اسونه
یې د سوغات په توګه عبد القادر ته را ولېږل او دا یې ورته ولیکل
چې ته له هغه خوا راشه، کابل به په ګډه ونیسو. غنیمت به
ځاوې او د دې ملک حکومت به ستا وی. عبد القادر هم
د صاحب خان انصاري په لاس یو څو توټې د سوغات په ډول
ور ولېږلې او ورته یې وویل چې ته ولاړ شه او حقیقت ځان ته
معلوم که، زه به هم درپسې درشم.
پدې وخت کښې د غوري خېلو مشران لکه کمال خان او نور
عبد القادر ته راغلل چې مونږ ټول درسره ولاړ یو، مامنزی
هم ستا طرفدار دي. راځه د پېښور کلا به در ته ونیسو.
پدې شان قسم او وعده یې سره وکړل. عبد القادر د
تیرا لښکر سره پېښور ته راغی. عمر خان مامنزی او
غوري خېل ورسره یو ځای شول. د پېښور په کلا یې حمله
وکړه، سعید خان کلا بند و. د غوري خېلو لښکر په تالان
لګیا شو او د عبد القادر لښکر له کلا نه چاپېره ګېره واچوله. بلد
ورځ کریمداد د ځینو غرضیانو په خوله به ته تیرا ته ستون
شو. عبد القادر ورپسې ورغی چې ته ره! چېرې ځې؟ راوګرځه
او د جنګ میدان مه پرېږده! هغه ورته وویل: چې ته هلک یې،

دوست دښمن نه پېژني، کريمداد راونګرځيد. عبدالقادر هم ورپسې روان شو. لدې پېښې نه چه کمال خان خبر شو، په عبدالقادر پسې ورغی چه کلامي نيولی ده، نه چيری درومي؟ هغه ورته وويل څه وکړم، کريمداد کاکانه دړېږې، نه ور شه هغه راستون کړه. کمال خان ورپسې ورغی، هرڅومره نه ورېی واچاوه، هغه ونه مانه.

عمرخان په جنګ کښې بوخت وه. خو چه غوری خېل د عبدالقادر د تلو نه خبرشول، مورچې يې پرېښودلې او وتښتېدل. سعيد خان چه دا حال وليد، له دروازې راووت، جنګ يې شروع کړ. عمرخان په جنګ کښې له ملګرو سره شهيد شو. کمال خان او څو نور له عبدالقادر سره تېرا ته ولاړل. څه موده هلته پاتې شول، خو بيا يې له سعيد خان سره خبرې شروع کړې او واپس خيلوځايو ته راغلل. په دې وخت کښې سعيد خان د شاه جهان له خوا د کابل صوبه دار شو. له بلې خوا صاحب جان د (مين توش) اوزبک له خوا عبدالقادر ته د دوستۍ او کومک خبرې راوړې، مګر د کوزنې بې اتفاقۍ له کبله ځينې ياران د کريمداد په خوا وو او ځينې د عبدالقادر پلويان وو. په دې وجه د عبدالقادر او مين توش د ليد وکتو خبره په ځای پاتې شوه او په بنګښ کښې هم بې اتفاقي راغله. په دې وخت کښې د الله داد (رشيد خان) له خوا

عبدالقادر ته یو خط راغی چه د قبایلو مشران خپل غرضي دي، اتفاق او دوستي یې د غرض دپاره ده، نوشیرداد چه تداشي او بادشاه وگوري. دغسي یو لیك یې خپلې خور د الایي(۱) ته هم ولیکه، دوی سره په دې خبره راضي شول. د سعید خان سره خبرې وشوې. سعید خان مخې ته ورغی او دی یې په عزت سره راووست. بیا یې د شاه جهان باچا دلیار ته ورساوه. هغه ورسره مهرباني وکړه او دوه هزاري منصب یې ورکړ. څو کاله سعید خان سره په کابل کښې پاتې شو، بیا پېښور ته راغی. دلته د تبې ناروغي ورپېښه شوه. بي بي الایي په تیرا کښې وه چه خبره شوه، پېښور ته راغله، د عبدالقادر حال یې خراب ولید. دارو دوا هیڅ فایده ونکړه. آخرې اجل پوره شو او لدې دنیایي کوچ وکړ.

عمر یې لا پنځه ویشتو کالو ته نه ؤ رسیدلی چه د روح مارغي لدې نړۍ څخه د هغې دنیا باغ او بڼ ته والوت. حالنامې د عبدالقادر د مرگ تاریخ (۱۰۴۴ هـ) ښودلی دی.

حالنامه په آخر کښې لیکي: د پیر دستگیر کورنۍ څلور پښته د افغانانو په قبیلو کښې حکومت وکړ او یا کاله یې له

(۱) تاریخ مرصع لیکي چه احداد د الایي او عبد القادر دواړه سره ډیره مینه لرله او هر کار به یې د دوی په رأی په مصلحت کاوه. (۲۵۲)

بادشاهي لښکر وسره پر لپسي جګړې وکړې لي چه کله به بريالی او کله به نا بريالی وو. ځينو قبيلو ورسره جنګونه وکړل، خو بيا تابع شول. هيڅ دښمن ورباندي بری ونه موند. مګر د کورنۍ مخالفت له کبله له يوبل نه جلا شول او د بادشاه تابعداري يې ومنله.

# ميرزا خان انصاري

د نورالدين زوی او د ميا روښان يو عالم او شاعر لمسی دی. د جلال الدين سره په تيرا کښې اوسېده او په ډېرو جنګونو کښې ورسره ملګری و. بيا له الله داد سره هند ته ولاړ او نور ژوند يې هلته تېرکړ.

حالنامه ليکي: چه ميرزا يو قوي او غښتلی سړی و، په ځوانۍ کښې دومره قوي و چه چا له څمکې نه شو خوځولی. باطني قوت يعني عقل او ځيرکي يې هم ډېره وه. دی که څه هم د شتو او دولت خاوند و، خو خلکو به درويش ميرزا باله، ځکه چه د دولت مينه يې په زړه کښې نه لرله. دی به هميشه په ذکر او فکر مشغول و. له ساز او کتاب سره يې ډېره مينه وه. په خپله يې هم سيند رباب واهه. زيات مجلس به يې له عالمانو او

فقیرانوسره کاوه اوکله کله یې له ځوانانوسره هم وخت تیراوه اوخوش طبعي به یې کوله . د سیل ، میلواوښکار شوق یې هم درلود اوکله کله یې د سیند په غاړه دیارانوسره میلې هم کولې . ظاهري علم یې هم کړی وُ ، خو په باطني علم کښې سمندر وُ او د توحید او تصوف په علم کښې لوی استاذ وُ .

میرزاخان آخر د دکن جنګ ته ولیږلی شو ، رشید خان او نور خپلوان هم ورسره وو ، د پرلوړ جنګ وشو . میاداد د جلال الدین زوي پکښې شهید شو . رشید خان او دولت شاعر پکښې زخمیان شول او میرزا انصاري پکښې سره له خپل زوي عبد الحکیم د شهادت درجه وموندله . چه جنګ خلاص شو ، میاداد ، میرزاخان او عبد الحکیم هلته ښخ کړی شول . یوکال پس د دوی هډوکی له دکنه شمس آباد ته راوړی شول . وایې چه د میرزاخان کالبوت سلامت پروت وُ . د میرزا مزار په شمس آباد کښې دی چه د جمعې په شپه خلك زیارت ته ورځي .

حالنامې د میرزا د مرګ تاریخ (۱۰۴۰ هـ) ښودلی دی .

میرزاخان شپږ زامن او پنځه لونړه درلودې چه نوموند بریې ور وسته راشي . یوه ښځه یې بي بي نورخاتون نومیده چه د جلال الدین مور وه . د میرزا یو تاریخي خط په حالنامه کښې راغلی دی چه د خواجه محمد او علي محمد په نوم یې

اوره یسي ته لیږلی ؤ چه یوه برخه يې داده :

فرزندان عزیز، سعادتمند، نورالابصار خواجه محمد و علی محمد را بعد از سلام خیر انجام !

الحمد لله که احوال اینجانب به خیر مقرون است و خیریت آن فرزندان مطلوب است . عریضهٔ که فرستاده بودید، رسید، مضمون آن معلوم گردید . الحمدلله زبان و گوش و بینی و چشم هرچه میکند، به امداد دل است، ازبرای اینست که جماد و نبات کار حیوان نمی کند وحیوان درکار انسان عاجز، چون بدن را بخشش کردند، دل را بحصهٔ علم دادند (تر آخره) .

# رشید خان

د جلال الدین یو مشهور زوی دی . اصل نوم يې الله داد ؤ، خو په رشید خان مشهور ؤ . ډیره موده په تیراکینې ؤ اود مغلو په جنګونو کینې د احداد سره ملګری ؤ، خو بیا يې په منځ کینې هم اختلاف پیداشو او دی له نورو روښنانیانو سره د جهانګیر بادشاه دربار ته راغی او هغه له خوا په شمس آباد کینې جاګیر ورکړی شو .

حالنامه لیکي چه دی د ښه صورت او سیرت خاوند و .
یو پرهیزګار، خوږ ژبی او سخي سړی و . لوړ همت یې درلود .
رشید خان د (۵۸) کالو په عمر په (۱۰۵۸ هـ) کښې وفات
شوی دی . وایي چه ده یو ښه کتابخانه درلوده چه په هغې کښې
ډېر نایاب کتابونه وو چه بیا شاهزاده مراد بخش ورته ډېر کتابونه
راوړل . رشید خان په خپل ژوند کښې د یوې شاهنامې د
جوړولو اراده هم کړې وه او اوه نیم زره روپۍ یې ورباندې
خرڅې کړې وې ، خو بیا نیمګړې پاتې شوه .

حالنامه وایي چه دی په (اورنګ آباد) کښې مړ شوی و ،
خو بیا یې مړی (رشید آباد) ته راوړی شو او دلته ښخ کړی
شو . رشید آباد په دې وخت کښې بیا رونق و موند . دکن ته
تللي روښانیان بېرته راغلل او د غرښار یې بیا روښان کړه .

حالنامه وایي چه د رشید خان مېینه د سکندر کاسي
لور او د سنجر خان وریره وه . دوی دواړه د جلال الدین
سره په تیرا کښې اوسېدل چه هغه مړ شو ، نو بېرته کندهار ته
ولاړل . کله چه رشید خان هند ته ولاړ ، نو سنجر خان
ورپسې خپله وریره هند ته بوتلله او هلته یې ورواده
کړه . د دغې ښځې نوم فیروز بخت و او په شمس آباد کښې په
کندهارۍ بي بي مشهوره وه .

# د میاروښان نوره کورنۍ

د محمد عمر ویل شوی دی چه میا روښان شپږ زامن درلودل

چه یو ئې د بی بی شمسو زامن وو او یو د توري ادې زوی و ۔

نو دا دی د حالنامې د معلوماتو له مخه د روښاني کهول لړ تولـه

سلسله په ورو ستـه ډول ښودل کیږی :

## د شیخ عمر اولاد :

د شیخ عمر زوی احداد نومیږی چه د دوا ړو وپېژندګلی د مخه راغلی ده ۔ د احداد

مور بی بی بسی نومیږی چه د بهارخان مامنزی لور وه ۔

د احداد ښځه بی بی الائی نومیده چه د جلال الدین لور وه

او یوه عالمه او پوهه ښځه وه ۔

د احداد زوی عبد القادر نومیده چه مخکې بیان راغلی دی

او لور یې دریاخاتون نومیده چه د کمال الدین نمسی محمد امان

تـه یې ور کړې وه ۔

عبد القادر یو زوی او دوه لوڼه درلودې ۔ زوی یې عبد الواحد

نومیده ، په هند کښې اوسیده ۔ حالنامه لیکي چه یو غریب او نامراد

ګلمی دی ۔ یوه لور یې د محمد امان زوی الله داد ته ورکړې وه ،

اوبلدي درشيد خان زوي عبد الله ته ورکړې وه .

## دنورالدين اولاد : دنور الدين

زوي ميرزا خان نوميده چه بيان يې دمحمد زاغلی دی ، د ميرزاخان ماينه بي بي نورخاتون نوميده چه دجلال الدين لور او يوه پوهه ښځه وه . ميرزاخان شپږ زامن او پنځه لونړه درلودې . زامن يې دادي :

## ۱- خدای داد : ښه ځوان او ښه خوی

خاوند ؤ . دموسيقي په علم کښې يې لوی لاس درلود . په (۱۰۶۲ هـ) کښې وفات شوی دی . قبر يې په برهان پور کښې دی . دغه اته زامن ترې پاتې شوی دی : دانش ، عبد الواحد ، عبد الستار ، عبد الغفار ، عبد الحامد ، کمال خان ، عبد الله ، عبد المؤمن .

## ۲- عبد الهی : يو هوښيار ځوان دی ، دری

زامن لري : عبد الجليل ، بهادرخان ، عبد المؤمن .

## ۳- عبد الحکيم : په حياء او علم کښې مشهورؤ .

پلار سره یوځای په (۱۰۴۰ هـ) کال په دکن کښې وفات شو .
وه ترامن ورته پاتې دی . یو عبد السلام او بل عبد الحلیم .

## ۴-عبد الکریم: یو خوش خویه ځلمی و .

پارسي او اردو شاعرو . نه (۹) زامن ورته پاتې دي :
عبد العظیم ، عبد العزیز ، عبد الباقي ، محمد سعید ،
عبد المعروف ، محمد صدیق ، ابو الحسن ، ابو القاسم ،
عبد ا... وف .

## ۵-عبد الرحمن: یو پوه ځلمی دی او په

هر علم کښې یوه معلومات لري .

## ۶-عبد السبحان: یو نیك خویه

عاجز ځلمی دی .

دري ورو ستي ترامن یې د بي بي نور خاتون له نسه وو او
دري لو مړي له بلې موره وو . د لونو نومونه یې دا دي :

**۱-بي بي فتح خاتون:** دا یې د وحدت علي ترو ی او د
محمد کمال نمسي میاداد ته ورکړې وه .

**۲-بي بي سلیم خاتون:** دا یې رشید خان ته ورکړې وه .

۳- مریم خاتون : سکندر شاه د محمد علی زوي او د محمد یعقوب نمسي کړې وه .

۴- بي بي فاطمه : په علم او سخاوت کښې مشهوره وه . صاحب خان د شیخ علي زوی د شیخ محمد او نمسي کړې وه

۵- بي بي رابعه : دایې در شید خان زوی الهام الله ته ورکړې وه .

پدې لوېو کښې د وه و رو ستې د بي بي نور خاتون لرنمسې وي او نورې لرې موره وې .

## د خیرالدین اولاد : خیرالدین یو زوی درلود چه ولي داد نومیده ، خوځوک ترې ندې پاتې . ولي داد داکبر باچا په وخت د رنتبول په جیل کښې وژل شوی دی .

## کمال الدین : د کمال الدین زوی پیرداد نومیده . لر پیرداد نه درې زامن پاتې وو : محمد زمان ، شاه زمان او ولي محمد .

**محمد زمان** : د شاه جهان له خوا وروسته په دکن کښې منصب ورکړې شوی ؤ . وایې چه دده هم وکې پېښور ته راوړې شول او د عبدالقادر د قبر په خوا کښې ښخ کړې شول ، د محمد زمان شیخ

بي بي دريا خاتون نوميده چه د احداد لور وه . ده دوه زامن درلودل

يو قادرداد نوميده او بل مهدي داد نوميده .

حالنامه وايي چه دواړه ښه زلميان دي او په شعر کښې ښه

مهارت لري . د قادرداد زامن عنايت الله ، حبيب الله ، خليل الله ،

عزيز الله نوميږي .

# د جلال الدين اولاد : د مياروښنات

يو نوميالى او مشهور زوى دى . ده څلور زامن او پنځه لور

درلودې . زامن يې دا دي :

**الف : الله داد** - ده د مور بنګښه او د ملک قاسم لور

وه چه بيان يې د محمد زغلي دى . ده ته شپږ زامن پاتې دي .

**۱- الهام الله** : په ټولو شياو کښې د پلار په شان او د علم

او حياء خښتن ؤ .

**۲- اسد الله** : شاجهان په ايلچ پور کښې حکومت ورکړى وه .

په (۱۰۶۰ هـ) کښې مړشوى دى . ده څلور زامن وو : ولي محمد ،

امان الله ، بقيمة الله ، سيف الله .

**۳- عبيد الله .**

**۴- نور الله .**

**۵- حبيب الله .**

۶- صاحبداد.

ب: هادیداد: یوښه پوه سړی و. د بادشاه له خوا د دکن ښځو ورسپارل شوی وه. په موسیقي کښې تکړه و او هندي شعروي وایه. په (۱۰۶۹ هـ) کښې وفات شو.

ج- میاداد: دی هم د دکن په جنګ کښې شامل و او په (۱۰۴۰ هـ) کښې مړ شوی دی.

د- کریمداد: دی په تیرا کښې د عبد القادر سره یو ځای و. په حالنامه کښې یې نوره یادونه نده راغلي.

د جلال الدین د لوڼو نومونه دادي:

ا- بي بي الائي: د احداد مائینه او یوه پوهه او هوښیاره ښځه وه. په سخا کښې مشهوره او په غریبانو مهربانه وه. خیر البیان او مقصود المؤمنین یې په معنی سره ویلی وو. کوم وخت چه د دې زوی عبد القادر مړ شو، د اوخپل ورور رشید خان په غوښتنه بادشاه ته ورغله، ځکه ورته جاګیرورکړ. کوم وخت چه بو دی ده شوه، نو خپل نمسي قادرداد له رشید آباد نه دکن ته بوتلله. د حالنامې مؤلف علي محمد وایي چه هلته ځکه افغین کورته راغله او زه یې په لیدو سره لوی شوم. بي بي الائي قادرداد ته وویل چه زه مړه شوم، نو هډوکي مې تیرا ته یوسې او د احداد د قبر تر څنګ یې ښخ کړې. حالنامه لیکي چه آخر همداغسې وشول.

۲- بي بي نور خاتون : د ميرزا انصاري مينه اويوه هوښياره او پوهه ښځه وه . حالنامه وايي چه د ميرزا ديوان يې ټول کړی یا دی . رشيد خان بر يې هره خبره منله او د دې د خوږې او لګښت پوښتنه به يې کوله. علي محمد په حالنامه کښې د دې له خولې نه د ډېرې قصې راوړي دي .

۳- عايشه .

۴- عالم خاتون .

۵- صاحب خاتون : د ميرزا خان زوي خدای داد ته يې ورکړې وه .

# بي بي کمال خاتون

د ميا روښان لور او د علي خان مامنزي مينه وه . دا ډيره موده په باجوړ کښې اوسېده . يو ځل جلال الدين په وخت کښې تيراته راغله ، چه وايس تلله ، نو په لار کښې د زين خان کوکه په لاس کښېوتله او د نورو روښانيانو سره يې لاهور ته وليږله چه هلته د اکبر باچا له خوا نظربنده وه . په دغه وخت کښې خپل دوه زامن خيرالله او ميرزا جاني هم ورسره وو . دغه

دوارهٔ زامن يې بیا تیراته ور سېدل او د خپل ماما
جلال الدین سره یو ځای شول .

# یادونه :

۱ـــ د ۱۳۲۲ کال د کابل کالنۍ په (۲۷۶) مخ کښې
لیکل شوي دي چه کریمداد په (۱۰۴۸ هـ) کال د مغلو په بند
کښې وژل شوی دی . دولت شاعر هم ورته شهید وایي :

کریمداد ، میاداد يې ورونه وو باور کړه
په هر یوه کښې څو لوند هنر وُ
مرتبه د شهادت بیا مونده دواړو
په رحلت يې دلګیر شوي یار اکثر وُ

۲ـــ په دغه کالنۍ کښې دهدادیه اد د دري زامنو خلوخان ،
عبد الواحد او عبد الرّحیم نومونه راغلي دي . دولت شاعر
هم د دوی دري واړه نومونه راوړي دي :

خلوخان ، عبد الواحد له هدادیه اده
په خلقت هر یو شیرین لکه شمر وُ
مشر وي دهدادیه اد عبد الرّحیم وُ .

# د میاروښان کتابونه

مونږ دلته د میاروښان صفر کتابونه راوړو چه په حالنامه کښې یې نوم وند راغلی دی.

۱- خیر البیان(۱): د میاروښان تر ټولو مشهور کتاب خیر البیان دی چه په دې کتاب کښې ډیر آیتونه حدیثونه رانقل شوی دی او بیا یې په پښتو او فارسي ترجمې راغلې دي. په خیر البیان کښې د فقهي زیات حکمونه، شرعي مسئلې او د ایمان او عقیدې یو څو نور بیان شوی دی او یو غوره دیني او شرعي کتاب گڼل کیږي.

۲- مقصود المؤمنین(۲): دا کتاب په عربي ژبه

---

۱- د خیر البیان په اوله برخه کښې د کلمې، لمانځه، روژې، زکوٰة او حج حکمونه بیان شوی دی چه دا د شریعت برخه ده. ورپسې د طریقت، حقیقت او معرفت بیانونه راغلی چه زیاته په عقیدې او تصوف پورې اړه لري.

۲- مقصود المؤمنین په (۱۹۷۶ع) کال کښې د ډاکټر میرولی په سریزه او اهتمام په پاکستان کښې چاپ شوی دی.

لیکل شوی دی او ځای په ځای پارسی ترجمې هم لري . ددې کتاب موضوعات په حقیقت او شریعت پورې اړه لري او د ایمان ، خوف و رجا ، توکّل ، توبه ، تزکیه ، ذکر ، معرفت ، قلب ، روح او نورو بحثونو پکښې راغلي دي .

۳- صراط التوحید[۱] : داکتاب د توحید او تصوّف په باره کښې په (۹۷۵ هـ) کښې لیکل شوېدی او د میا روښان د مسلك او عقیدې غوره ښکارندوی دی .

۴- فخرالطالبین : دارساله هم د میا روښان د عقیدې او مسلك ښکاره کوونکې ده چه د خلیفه یوسف په لاس یې د بدخشان میرزا سلیمان ته لیږلې وه ، مګر په خپله د غه رساله تراوسه نه ده پیدا شوې .

۵- حالنامه : داکتاب په پارسي ژبه لیکل شوی دی . او د میا روښان او د ده د کورنۍ حالات پکښې بیان شوي دي . دا کتاب د علي محمد مخلص له خوا له سره ترتیب شوی دی او د روښان د کورنۍ حالات پکښې په تفصیل سره راغلي دي .

---

(۱) او صراط التوحید په (۱۹۵۲ ع) کال کښې د ښاغلي عبدالشکور په اهتمام په پېښور کښې چاپ شو .

# دوهمه برخه

# دروښان مسلک او تحریک

دروښان پدر وند انه کښې تر ټولو مهم شی دادی چه د ده مرام او مسلک څه ؤ او څرنګه یې غوښتل ؟ دده تبلیغ او مجاهدې څه دپاره وې ؟ او مقصد او د زړه آرزو یې څه وه ؟

مونږ غواړو چه دده د مرام او مسلک اصلي رڼا دده او دده د پیروانو په کتابونو کښې وګورو او د غرض او سیاست د خاوندانو تورونو او خبرو ته پرېږدو . میاروښان د ځلمی توب په زمانه کښې په تجارت لاس پورې کړ او د خپلو عزیزانو سره به د سوداګرۍ دپاره کندهار او هندوستان ته تلو راتلو .

د کندهار په یوه سفر کښې د هغه ځای د مغولی حاکم بیرم خان خرڅ ګیرانو د دوی په کاروان ډیر ظلم او تیری وکړ او له نیمایی نه زیات مال یې ورڅخه واخیست . دوی بیرم خان ته ورغلل ، دیناو او انصاف غوښتنه یې وکړه . هغه ورسره وعده وکړه ، لاکن بیا یې هیڅ غور او پوښتنه ونکړه . دې پېښې د میاروښان په زړه ډیر ناوړه اثر وکړ او چه کور ته راغی ، د سوداګرۍ کاروبار یې پرېښود

او خدای په عبادت بوخت شو. (۱) پنځه کاله یې گوښه کیږی غوره کړه، د زړه د صفایی په لوړ یې مخ وګرځاوه او د تصوف په لوړی دریاب کښې لاهو شو. دی په شرعی چارو کلک ولاړ ؤ او د شریعت منښت د ده د مسلک لومړی مقام ؤ.

میاروښان چه د عبادت او ریاضت له لارې د زړه د صفایی او پاکۍ درجې ته ورسید او د روحانیت خاوند شو. نو بیا یې د خپل مسلک په تبلیغ لاس پورې کړ. په اول کښې یې له نرمۍ او حکمت نه کار واخیست، خو بیا یې له ناچارۍ نه تورې ته هم لاس واچاوه او د مغولی حاکمانو، صوبه دارانو د زور زیاتی په مقابل کښې یې د پښتونخوا غرونه او رغونه د غلیمانو په وینو سره کړل. د غر مسلک او غدلار تر ده وروسته د ده زامنو او لمسو هم ټینګه کړه او پوره سل کاله په ډیر شور او زور سره د روښانی مسلک هلې ځلې روانې وې.

میاروښان په لسم هجري پیړۍ کښې د یو روحانی، ادبی او سیاسی مسلک بنیاد کیښود چه له دې کبله ورته د پښتنو یو روحانی ادبی او سیاسی مشر ویل کیږی. ده د خپل روحانی مسلک د ټینګولو د پاره هم له قلم نه کار واخیست او هم یې توره په کار

---

(۱) صراط التوحید - د پېښور چاپ - (۲۰) مخ.

واچولہ۔ نو ځکه دی هم دقلم خاوند بلل کیږی او هم د توري خاوند

چه دا صفت په نورو صوفیانو کښې نه لیدل کیږی. د برکسانو د

دگوښه‌ګیرۍ او تصوف علت د زورزیاتی او ظلم د پرېدل، د

ناهیلۍ او نا امیدۍ پیداکېدل او د ژوند انه پېچګړه کښې

ماتې خوړل بولي. خو د میاروښان د تصوف علت یوازې د ظلم

زیاتی د پرېښودل دی. ده د نا امیدۍ ځنځرونه وشلول،

د ژوند انه په ډګر کښې د جګړې میدان ته را ووت او خپل

سپېڅلی مسلك یې روښان او ځلاند وساته. د میاروښان

لوی مخالف پیر سید علی ترمذی (پیربابا) او اخون درویزه وو

چه په دې مخالفت کښې د مغولي حکومت لاس هم شریك ؤ، ولې چه

زورګیراو غاړه حکومتونه د همېشه د پاره د وچې او علم سره په

جګړه لګیاوی او هوښیار، ځیرك او په قام مین خلك ورته د ځان

دښمنان ښکاري.

د میاروښان سره د خپل اولس د لوړتیا او خپلواکۍ ـــ

شوند یوه کلکه آرزو هم ملګرې وه. ده غوښتل چه پښتانه د

خپلواکۍ شواك خاوندان وی او د مغولی پاچاهانو د زور زیاتي

نه بېغوند آزاد وی. روښان یو غښتلی مبلغ ؤ. د پښتونخوا

د غرونو سرونو یې د هند دربارونو او د بدخشان غرونو ته

د خپل تبلیغ غږ ورساوه.

مغولي واکمنان دده د آزادي مخې ته راپاڅېدل، خو دی لرخپل عزم او همود نه وانه ووښت او تر آخره يې خپل تبليغ په مړانه وچلاوه او بيا يې د غدا مانت خپل اولادته و سپاره چې تر ډېره وخته يې په سبد شان د پښتنو نوم، عزت او شان لوړ او اوچت وساته. دده تبليغ يوازې مذهبي نه و، بلکه دی لوی سياسي مبلغ هم و. د پښتنو ديو والي، خپلواکۍ او آزاد ژوند رښتينې آرزومن و. دده غوښتل چې پښتانه د مغولي طاقتونو په مقابل کښې کلک ودروي او د مړانې او غيرت روح پکښې ښه ورو زي. مياروښان ديو لوړ شخصيت خاوند و، د شريعت او اسلامي حکمونو پوره پابند و. دده او دده د مريدانو په کتابونو کښې يوه خبره هم د شريعت نه خلاف نه ده راغلې. که څه هم اخون درويزه وريانده د الحاد ډېر تورونه لګولي دي، خو يوهم د حقيقت سره سمون نه خوري. په روښانی آثارو کښې د اخون درويزه په بارکښې يوه بده يا سپکه سپوره خبره نه ده راغلې چې له دې څخه هم دده معنوي لوړ تيا ښکاره کېږي.

# دروښان تبليغ: د مياروښان مهم کتاب

چې دده تصوفي مسلک ترې پوره ښکاره کيږي (صراط التوحيد) دی. په دې کتاب کښې د خپلې زمانې پاچاهانو، اميرانو او لويانو ته

د توحید او د خدای د عبادت بلنه ورکوي او تل د زور او قوت خاوندانو ته وایي چه زما خبرې واورئ او په شریعت کلک ودرېږئ.

دی د صراط التوحید په سر کښې خپل تبلیغ د درې نصیحتونو په رنګ کښې شروع کوي.

لومړی نصیحت د عقل د فضیلت په باره کښې دی. دی وایي بنیایي چه د عقل خاوندان د خپل عقل نه کار واخلي، ښه او بد، روا او ناروا، حلال او حرام د عقل په نور سره بېل کاندي. د پیغمبرانو او مخلصو مؤمنانو خوبونه وپېژني او د شیطان، کافرانو او منافقانو لخوا نه چه ده ورکړې او په کائناتو کښې د خدای د قدرت ننداره وکړئ.

دوهم نصیحت د علم په باره کښې دی. دی امیرانو او پاچاهانو ته په خطاب کښې وایي: په کار دی چه علم حاصل کړئ، ظاهري علم له استاد څخه او باطني علم له کامل پیر څخه لاس ته راوړئ.(۱)

درېیم نصیحت د توحید او نیغې لارې په باره کښې دی. په دې ځای کښې پاچاهانو او امیرانو ته خطاب کوي او وایي: چه د توحید او حق لار د انسانانو په زړه او وجود کښې ده، نه په بل ځای کښې او دا لار له کاملانو نه پرته بل څوک نه شي پېژندی.

کامل فقیران او رښتیني مسکینان د پیغمبرانو وارثان او د

---

(۱) صراط التوحید - له ۳۳ نه تر ۵۰ مخ پورې.

حق او توحید لار ښوونکي دی . څوک چه د دوی لار ښوونه ومني،
پر ښکاره بی لاری کښې به پاتې وی . تاسی پدې وپوهیږئ چه
پخوانو انسانانو به د توحید او معرفت علم له پیغمبرانو نه لاس ته
راووړه او له هغوی نه وروسته به یې له ولیانو او کاملانو نه زده کاوه.
کامل پیر هغه څوک دی چه د شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت،
قربت، وصلت، وحدت او سکونت خاوند وی .

دی وایي چه د کامل پیر منښه د رسول منښه ده او د رسول
منښه د خدای تابعداري ده . پدې برخه کښې د کامل پیر سره
متابعت د پرېښو راچوی او له نیمګړو پیرانو څخه ځان ساتنې
سپارښتنه کوی . په نتیجه کښې د عقل له خاوندانو او هوښیارانو
څخه غواړي چه ځانونه له ناقصو پیرانو، غافلو عالمانو، غوره مالو
فقیرانو او جاهلو متصوفانو څخه وساتي او ددوی صفت، تابعداري
او منښت پریږدي، څوک چه د شریعت په لاره نه دروهي،
هغه هرګاس ناوړه او نامنلي ګڼي .

میاروښان له دغو پندونو څخه وروسته په صراط التوحید
کښې د اوو خصلتونو او خویونو سپارښتنه کوی او هغه دا دی :

١ـ له حرامو نه ځان ساتل .

٢ـ لږ خوراك او څکاك .

٣ـ لږې خبرې کول او له بد وخبرو ځان ژغورل .

۴ - لېږ خوب کول او د شپې په قرار شوم کښې د خدای یادول .

۵ - د نېکانو او ښو خلکو سره کښېناستل او د بدو او له مجلسه ډډه کول .

۶ - خفي ذکر یعنې په دائمي توګه په زړه کښې د خدای یادول .

۷ - تر هغې قرار نه کښیناستل تر څو چه یې د معرفت او توحید ټول مقامونه نه وي پېژندلي .

# د روښان تصوف : تردې ورو وسته

: تصوف داوو مقامونو بیان دی چه په اوو پړاوونو ، اوو سیرونو او نورو نومو هم یادیږي .

شریعت تر ټولو لومړی مقام بولي او وایي :

شریعت را مقدم دار اکنون ، حقیقت از شریعت نیست بیرون

کسې کو در شریعت راست آید حقیقت راه بروی خود کشاید

د میاروښان د تصوف مقامونه په دې ډول ښودل کیږي :

۱ - شریعت : په دې مقام کښې سالک د اسلام پنځه اصول ( کلمه ، لمونځ ، روژه ، زکوٰة ، حج ) په ځای کوي . له دروغو ، غیبت او ناروا خبرو څخه ځان ساتي .

۲ - طریقت : په دې مقام کښې به سالک زړه او اندام له ګناه پاك ساتي او د نفس هوا په خوښه پسې به نه ځي .

۳- **حقیقت** : پدې مقام کښې به سالک په حقیقي ډول یقین پیدا کوي، ګمان به لیرې کوي او په خفي ذکر او دایمي فکر به لګیا کیږي. خفي ذکر دې ته وایي چه هره ساه به بې د خدای له یاده نه وباسي او یقین دا دی چه په دواړو جهانو کښې هیڅ شی د خدای له وجود نه جدا و نه ګڼي.

۴- **معرفت** : پدې مقام کښې سالک د زړه په سترګو د حق دیدار کوي او له ټولو بنیادي شرّونو (نفس، حرص، شهوت، طمع) څخه ځان ساتي.

۵- **قربت** : پدې مقام کښې د حق له آوازه پرته بل هیڅ نه اوري.

۶- **وصلت** : پدې مقام کښې سالک خپله هستي هېره کړي او یو معبود وینی.(۱)

۷- **وحدت** : پدې مقام کښې سالک خپل ځان او ټوله دنیا د خدای په وجود کښې ورکه او بې برخې کړي.

۸- **سکونت** : اتم مقام سکونت دی. دا د ډاډ او باور مقام دی. پدې مقام کښې زړه او روح ته هر ډول سکون، آرام او ډاډ حاصلیږي او مجاهد ي

---

(۱) صراط التوحید له ۸۵ مخ نه تر ۱۰۰ مخ پورې دی. د قربت وصلت او وحدت مقامونه په چاپي نسخه کښې په تفصیل نه دی راغلی. مبنائی په قلمی نسخه کښې پاتې شوي.

پړاوونه خلاصیږي . د میاروښان په فکر مقامونه په اصل کښې اووه دي او اتم د مقصود پړاو دی . مګر د میاروښان پیروانو لکه ارزاني ، میرزاخان او دولت لواڼي ، دغه اته واړه د مقامونو په نامه راوړي دي چه وروسته به بیان شي .

میاروښان د صراط التوحید په پای کښې وايي چه ریښتیني طالب ته په اوله چیله (څلوېښت ورځې عبادت) کښې علم الیقین ، په دوهمه کښې عین الیقین ، په دریمه کښې قربة الیقین ، په څلورمه کښې وصلت الیقین ، په پنځمه کښې توحید الیقین حاصلیږي او په شپږمه کښې د کشف الاسرار درجې ته رسیږي .

## د میاروښان وحدة الوجود مسئله :

په تصوفي مسلك کښې د وحدة الوجود مسئله هم یو څرګند مقام لري . د تصوف رسمي مسلك د حضرت محمد (ص) په زمانه کښې نه و ، وجه یې دا وه چه هغه وخت د باطن د پاکوالي د پاره د پیغمبر (ص) صحبت کافي و او بل شي ته ضرورت نه لیدل کېده . تصوف دیوې نظریې په صفت په دریمه پېړۍ کښې او د مسلك په توګه په څلورمه هجري پېړۍ کښې میدان ته راوتلی دی . خو وحدة الوجود مسئله د شیخ اکبر محی الدین ابن عربي له وخت نه راښکاره شوې ده او بیا وروسته شیخ عطار (رح) ، مولانا جلال الدین په غاړه اخېستې ده . په

پښتنی دنیا کښې میا روښان، میرزا انصاري، ارزاني، مخلص، واصل او دولت لواڼي دد غې لارې مسلکی پیروان دي . د باطني عالمانو او ظاهري عالمانو ترمنځ شخړه اولانجه هم له پخوانه موجوده وه . د ابن عربي (۶۳۸ هـ) او ابن تیمیه (۲) ترمنځ جګړې او د کفر فتوې معلومې دي (۱)، د غسې ډېرې شخړې هم ډېرې تېرې شوې دي .

د تصوف مهم مقصد د نفس پاکوالی، د زړه صفایي، د خلکو خدمت او د انسان کامله پالنه او روحي روزنه ده . میا روښان په خپلو لیکنو او نصیحتونو کښې د غه لوړ مقام ته ډېر اهمیت ورکوی او د نفس د پاکوالي د پاره دیو کامل پیر لارښوونه ضروري او لازمي بولي .

د صراط التوحید له ځینو ځایونو څخه د وحدة الوجود مسئله هم څه ناڅه ښکاریږي لکه چه د حقیقت د مقام په برخه کښې دې خبرې ته اشاره شوې ده او هیڅ یو شی د خدای له وجود نه جلا نه ګڼل کیږي .

که څه هم د روښان په آثارو کښې د غسې نظریه چه خدای او موجودات یو شی وګڼي، په ښکاره ډول نه معلومیږي، خو ده له تبلیغ او لیکنو څخه دا خبره جوتیږي چه د ی د توحید او وحدانیت کلك ملګري دی او د یوه خدای عبادت په هر چا لازم بولي . د ده لوی مقصد

(۱) د وږمې مجله - (۱۳۴۱) کال - (۳) ګڼه - (۱۸) مخ .

دادی چه خلک د پاچاهانو، امیرانو او حاکمانو له نمانځنې را وګرځوي او د هر چا توجه یوه مرکز یعنې د یوه ذات عبادت ته ور واړوي او د یوه وجود نه پرته نور وجودونه بې اهمیته او بې قیمته وګڼي.

# د روښان تحریک او مرام

د پښتونخوا په غرنۍ سیمه کښې چه په پښتو ادب کښې د «روه» په نامه یادیږي، د میاروښان تومرلکه نمر د روښان دی. زیات تاریخ پوهان د ده اصلاحي او ملي مبارزې او هڅې د روښنائي تحریک په نامه یادوي. لکه چه سیّد ظفر شاه کاکاخیل په خپل لوی تاریخ (پښتانه د تاریخ په رڼا کښې) د روښاني تحریک د عنوان لاندې (۳۰) مخه د میاروښان د تحریک په باب لیکلي دي او د دې تحریک ټول حالات یې د همایون له وخته د شاجهان تر وخته پورې په (۷۶) مخونو کښې ښودلي دي. سیّد ظفر شاه او نور پوهان د میاروښان تحریک په اول کښې یو مذهبي او اصلاحي تحریک بولي چه بیا وروسته یې سیاسي رنګ پیدا کړی دی[1]. د مغلو او پښتنو د جګړو شخړو تاریخ خوږ بر پخواني دی، خو زیات زور او شهرت یې

---

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کښې - (۶۷۵) مخ.

د روښان په وخت کښې موندلی دی .

د بابر د تره میرزا الغ بیګ له خوا په کابل کښې داوو سوو پښتنو ملکانو وژل ، د بابر له خوا د لوی ستری وا کمنی ړنګول او د پښتنو له سرو نو څخه منارونه جوړول ، د غه شان د شېرشاه او همایون ترمنځ سختې جګړې او داسی نورې پېښې د دغه تاریخ په وینو لړلی پاڼی دی . د میا روښان د تحریک شروع هم په کنده هار کښې د مغولی حاکم بېرم خان د ظلمونو او تیریو څخه شوی ده لکه چه ښکاره ده ، د ده د تحریک اساس او بنیاد د ظلم ، زورزیاتی او تیری په مقابل کښې یو پوخ سنګر جوړ شوی وو . ده غوښتل چه د ظالمانو حاکمانو او زورګیرو پاچاهانو له ظلم او زیاتی څخه پښتانه خلاص کړی .

ده ټول مبارزه د استبداد ، آمریت او سرزوری په مقابل کښې وه . لکه چه تاریخ مرصع لیکی :

«روښان به ویل : چه مغل ظلم پیشه دی پر دا پښتنو باندی ظلم ترحد زیات کا » (۳۳۹ مخ) .

ښاغلی سیّد ظفرشاه په ښکاره توګه د دغه مطلب بیانوی (روښان د مغلو د شخصی استبداد سخت مخالف وُ او دا یو حقیقت دی چه د پښتنو قبایلو کښې د مغلو د اقتدار برخلاف د خپلی آزادی د ساتنې جذبه هم دی تحریک

الپړ ولې وه (۱)

میاروښان دخپل تحریک دکامیابۍ دپاره د توحید او

نصرف لاره ونیوله . دیوښکاره اسلامي حکومت په مقابل کښې

پښتنو یوکول اردرول ، بېله دې لارې څخه ممکن نه وو . دا

وجه وه چه ده دخپل تبلیغ مخ پاچاهانو او امیرانو ته وګرځاوه

ودوی یې د توحید او دین حقې لارې ته راوبلل . ښاغلی

عبدالاکبر دخپل کتاب «روښانیان » په (۱۱) مخ کښې لیکي : چه

میاروښان د پښتنو حکومت غوښته ، ددوی ورورولي یې جوړوله

اودوی یې د زیاتی خوروپیرانو او امیرانو له پنجو نه خلاصول .

حیات افغانی لیکي چه روښان به خپلو پیروانو ته ویل : چه

مغل ظالمان دي او زمونږ سره ظلم کوي ، نو څکه په کاردی چه پښتانه

ددوی له غلامۍ نه ځانونه آزاد کړي .

---

(۱) پښتانه د تاریخ په رڼا کښې - (۲۷۱) مخ .

# د میاروښان مسلکي پیروان

د میاروښان په مسلکي پیروانو کښې ډیر شاعران او ادیبان تیر شویدی. مونږ دلته د دوی پوره ژوند پېژنه نه بیانوو، یوازې غواړو د تصوف، سلوک، توحید او نورو مقامونو په باره کښې د دوئ نظریې او شعرونه راوړو او په دې ډول د روښان د مسلک او تصوف لاره پوره روښانه کړو.

ارزانی د روښانی تصوف اته مقامونه په دې ډول بیان کړیدي:

شریعت د راه آغاز دی    طریقت یې سوز و ساز دی
حقیقت حال وی په زړه کښې    معرفت یې سره راز دی
په قربت یې نږدیکي ده    په وصلت کښې لا دوئی ده
په وحدت کښې دوئی نشته    سکونت کل نیک خوئی ده

* * *

دیوه وحدت له نو    دیوه نور له پرتو
د رست کلیات یې موجود کړي    د دی کن امر له شو
یو وحدت دی څرګند شوی    په څو رنګه په څو نوم

د میرزا انصاري په دیوان کښې د توحید پلوشې له ورایه ځلیږي او دی او د وحدت بریښنا یکښې هر ځای تور بربښن کوی. دده په

دیوان کښې هم د غه اته مقامه په جلا جلا رنګونو کښې لیدل کیږي، لکه چه وایي :

شریعت رښتیا وینا ده صادقان دي اطاعت کا
چه په شریعت ثابت شي ترو دي یون په طریقت کا
چه ثابت په طریقت شي نو طلب دي حقیقت کا
چه ګمان شي له زړه لیرې او ارواح یې تجلیّت کا
د ارواح تجله داده چه دیدن د معرفت کا
چه یقین یې دریاب شي او طلب یې د قربت کا
په آواز چه ورسېږي ترو منزل دی د وصلت کا
هر واصل چه یکاشي ننداره به د وحدت کا
او باقي به جاودان شي چه نزول په سکونت کا (۱)

* * *

## د توحید د نمر پلوشې :

دا مجاز یې غلاف کړی په کښې ایښې حقیقت دی
په یوه کښې دویم نشته بې هوی ګمان غلط دی
په هر کار کښې تجلی کا عجب نور د معرفت دی

* * *

---

(۱) د میرزا دیوان - ۱۳۵۴ ش کال - د کابل چاپ - (۲۱ - ۲۲ - ۲۳) مخونه .

د وحدت ونډیوه ده تل تر تله    او کثرت یې په ښاخونو تار په تار شي

دولت لواڼي هم د وحدت د باغ یو خوږ شوبې بلبل دی او په دې

د ول سره د وحدت ناري لړخولې و باسي :

د عارف مقام توحید دی    هلته نشته بې وحدته

د توحید په مقام باندې    وحدت یو دی له کثرته

دا یو نور دی هر ځای کیږي    هر رنګ شي ځنې جوړیږي

ګه اوره شي و تښتیږي    ګه باران شي و وریږي

بې حسابه مخلوقات چه حسابیږي    یو احد دی محیط شوی په هر هر کښې

کل عالم د ده په ذات کښې هسې غرق دی    لکه ستوري چه د ورځې غرق شي نمر کښې

درست فاني شه په توجه کښې

ځان کړه پاک له کم و بیشه

* * *

دولت د میاروښان د تصوف مقامونه هم راوړي دي، څو

څلور یې مقامونه او څلور یې سیرونه بولي، لکه چه وایي :

میاروښان هادي په خلقو باندې راوړه

الهامات اربع مقام څلور سیرونه

طالبان دې د زړه په غوږ د واوري

د اتو واړو نسبه و والسیم وصفونه

شریعت ښښتیا ویل د پیغمبر دی | حذر کړه له غلا زنا له غیبتونه
پنځ بنا د حلال حرام پېژندګلی ده | عمل کړه په دواړو حکم په رکنونه (۱)
طریقت فعل کردار د ریم فرض شوی | د صانع طاعت په واړه اندامونه
حقیقت د زړه طاعت د نبي حال دی | شامدام د منکور یاد وی په نقلونه
معرفت د غیب دیدن دی بې جهته | د جمیل جمال بې شبه بې نمونه
د قربت ذکر مقام د سامحان دی | پوهېدن په تسبیحات په آوازونه
په وصلت دوا اصلا نو یو کېدل دی | په یوه وجود شمېرل تول وجودونه
چه دا واړه وجودونه یو وجود کا | په دغه حساب تمام شی حسابونه
د وحدت مقام مکان د موحدانو | یادول په هر یو اسم کل اسمونه
سکونت بلند مقام له دواړو پاس دی | نور د ده د پاس نشته مقامونه
چار مقام څلور سیرونه می بیان کړل | د هر هر یوه صفت دوه دوه بیتونه
د معنی شاهد بړمخ د ترخر ګند کا | کړ په دا کلام عمل و کړی ښپښتونه (۲)

* * *

علي محمد مخلص هم د دی سلسلې یو موحد او صوفي شاعر دی . دی په حالنامه کښې وایي چه ما د توحید په علم کښې له میرزا انصاري نه ډېره فایده اخیستی ده . نو دده اشعار

---

(۱) بایزید روښان - خادم - پښتو ټولنه - (۱۲۶ - ۱۲۷) مخونه .

(۲) د دولت دیوان - پښتو ټولنه - (۱۳۵۳ ش) - (۳-۴) مخونه

هم د میاروښان ، ارزاني او میرزا انصاري په تصوفي سبک
پوره اړه لري چه يو څو مثالونه يې دادي :

خوله تو یک ژبه ماشر ده      بد گفتار یکښې ګوله
(میرزا انصاري)

حق مظهر دی یې مظهر شو      په مظهر کښې لا اثر شو
دی اړ سي حق تري څرګند دي      حق ثمر دی یې شجر شو

* * *

په لطیف کښې لطف ګوره      کر دې فتح د زړه باب دی
دا لطف د حق هستي شوه      پوري بینا عارف ارباب دی
هم پکښې هم تري بیا پېره      دی ماهي هستي یې آب دی
ماهي هر لوري ته چه ګرځي      وا و بوته یې ماب دی
سړي هر لوري ته چه ګرځي      په غد لور د حق جناب دی

* * *

د وحدت مثال او بر کثرت پخش      د پخش پڅونګر په څو نام دی
د وحدت په مثال بیخ کثرت ښاخونه      د یوه میوه پخه د بیل خوخام کي

* * *

قادر داد هم د میاروښان د مسلک او نظر یې کلک پیرو او تابع
دی او دغه مطلب په ښکاره توګه څرګند وي :

که هادی بازید روښان وُ، دی کامل په خپل زمان وُ
تل یې یاد په دل وځان وُه کلمه د بسم الله
هیڅ سړی په غفلت نه ځي قادر د ا د ه
که پیرو د انصاری بازید روښان شي

* * *

چه دې ژبه خدای گویا کړه | د احد مرسل ثنا کړه
اول نوم یاد د احد دی | بیا درود په مصطفی کړه
د وحدت په تنهایي | یو احد احد صدا کړه
په خدایي ښتیني فکر | آئینه د زړه صفا کړه
په تخته د خپل زړګوټي | نقش رسم د مولا کړه

(ورکه خزانه - اول ټوک - ۲۱۹ مخ)

ورکړی (۱) (۱۱۷۰ هـ) هم د روښاني لړۍ یو شاعر دی چه په ورکه خزانه کښې یې شعرونه راغلي دي. دی د قادر داد ملګری وُ او صغر د مرحوم په نامه یادوی او د میاروښان په لار ښوونه د آخرت فکر او غم خوری.
رامه د بایزید مسکین کړه په تقوی کښې مې متین کړه
د عقبیٰ د معاش فکر هم د ده په رهبری کړم

(ورکه خزانه - اول ټوک - ۳۱۶ مخ)

دی د احداد په وخت کښې د پنجو خان یادونه هم کوی چه مغلی منصبدار غیرت خان یې وژلی وُ. پنجو خان یو نومیالی

---

(۱) ورکړی په یوه بولله کښې د دولت خان ورکړی د ←

دولت زی فیروز خیل دی چه د مغلو په جنګ کښې شهیدان شوي ؤ .

د احمداد غازي په وخت سر فوج پنجو ؤ

غیرت خان په خون بې رنګ تیغ ومروند کړه

* * *

کریمداد (۱۰۸۶ ه) بنګښ هم چه د پښتو یو ښه شاعر او د دیوان خاوند ؤ ، د میاروښان کلك مرید او عقیده تمن ؤ .

د کریمداد د په اشعارو کښې د وحدت الوجود د مسئلې پیروي ځای په ځای څرګندیږی ، لکه چه وایي :

د وحدت و نه یوه ده یو یې اصل — په کثرت یاندې خوره شوه په څو ښاخه
هر یو جزء یې په ګوښې نوم یادیږي — چه اجزاء سره پیوند شي نوم یې کل کړه
د اکثرت یې د یوه وجود ظهور دی — د غریو به په سل شماری اصل د سل کړه

د میاروښان په ربنا هر ځای روښان بولی :

د روښان روښنایی ګوره کریمداد — چې یې صیخ نقطه پری نه شوه بې تقسیمه

بل ځای وایي :

په بخره دي وصال شو کریمداده — چه د اهسې د روښان په توکل ځې

د حقیقي عشق په باب وایي :

که یو ځل د حقیقت دیوه کړم بلا — د اپتنګ به د لمبې په سر کباب کړم

* * *

---

← شپږ ورامنو نومونه راغلي دي : بازید ، فیروز ، محمد خواجه ، اتمان ، خداداد او الله داد . او دده اولاد یعني دولت زي ←

دواصل په اشعارو کښې هم د روښاني [۱] مسلک او توحید په باره کښې ښکاره مثالونه موجود دی چه یو څو مثالونه دلته راوړل کیږی :

ای درسم د ریا په علم مسته — د توحید اهل بیزار له خود پرسته
دواصل چه له وحدته آشنایي شوه — په نظر یې نیستی نه راځي بی هسته

* * *

څو خمار رضا یوه وی دتا سلمه — په دویي کښې به مانه موځي واصله
هغه مخ چه د آسمان د ځمکي نور دی — تجلّی کاندي په هر لوري حضور دی
ای واصله د گمان له اهله مه شه — د پیالي گناه به وبښي غفور دی

* * *

شریعت د معرفت د غاړې هار دی — ومعراج وته ځانته په دار رسن شي
شریعت رښتینی لار ده — د راه رو لي په قطار شي

---

← د ننگ خاوندان بولي . لدینه داسې ښکاري چه داورکزی په خټه دولت زی دی . نو ځکه قابل ورکزی او دی یوخیل نه ښکاري، ولی چه هغه بل خیل او مسوزی دی . دلیرخان فیروزخیل او دولت محمد خان میرزاخیل چه بهوپال نواب وُ ، دده دولت پر اولاده کښې راوړي دی .

معرفت یې عنایت دی — عبادت به یې په چا رشي

معرفت دې په مشتاقو مبارک شه — د واصل منصب یې زیات کړ قدردان دی

* * *

وحدت یې وند کثرت یې سپانی — او ذات زړه یې اصل بقا دی

یوازې تل دی چه تل به اوسي — واصل گواهي لي چه یو یکتا دی (۱)

* * *

د دې سلسلې بل شاعر میرخان نومیږي چه میرزا حنان کندهاری
د میرزا او دولت سره یو ځای یاد کړی دی:

یو میرزا میرخان دولت د علم کان وُ — د سلوک شعري کړي دی افضل

د میرخان یو دوه بولې د دولت شاعر د چاپي دیوان په آخر کښې
شته چه یو څو شعرونیې د لته راوړل کیږي:

نن مې زړه لخفي گنج کاڅو وینا — مخفي گنج دی بې شویکه بې همتا

یو عجب ښایسته نور وُ بې مثاله — منزه له سبز و سرخ هم بیضاء

---

(۱) واصل یو روښاني شاعر دی چه پخوانو شاعرانو یادونه کړې ده.
خوشحال وائي:
که دولت وُ که واصل وُ که دانور وو — په خبرو مې د هر یوه ریشخند کړ
کاظم شیدا وائي: «یو میرزا دولت واصل هم + بل یې کلام لري حاصل هم»
د واصل یو څو شعرونه د ملا اختر کندهاري د بیاض په حواله په ۱۳۵۳ کښې
د پښتو ټولنې له خوا شوي دي چه د غه شعرونه له هغه ځای نه را نقل شوي دي.
واصل د (۱۰۵۰ هـ) د شا وخوا شاعر دی او ښایې تر
(۱۰۶۰ هـ) پورې یې ژوند کړی وي.

هم کامل هم مکمل او هم غني ؤ    پاك له فقره له نقصانه له فنا

(د دولت چاپي ديوان - ۲۵۲ مخ)

* * *

په بل شعر کښې د توحيد له پټې خزانې څخه د موجوداتو مرغلرې راباسي

او ميا روښان د کامل هدايت يادونه کوي :

گنج مخفي چه ظهور وکه په څو شانه    کل اشيا په ظهور راغلل له نهانه

لون لون خلك په وجود راغلل    ستا مظهر کامل اتم وينم روښانه

هم وارث د انبياؤ هم ولي ؤ    هم هادي د هدايت ؤ په څو شانه

مصنف هم په هندي هم په فارسي ؤ    هم په ژبه د عرب هم د افغانه

په څلور لفظه يې خير البيان گوت    په طريق د الهام راغی له رحمانه

مرتب په مقامات او منازل ؤ    موافق هم له حديث هم له قرآنه

(د دولت چاپي ديوان - ۲۵۷ مخ)

* * *

د ميرخان د اشعارو يوه قلمي نسخه د دو شنبې په ښار کښې

د ښاغلي عبد الغني ميرزايوف سره شته دی چه ما و رځني څو غوره

وروسته بيتونه را نقل کړي دي :

د ميرخان نصيحت واوره پس روی د پاك ميا کړه

د ميرخان وينا ده شمع د غافل په حال لوگی وي

د سوات عالم پېښور ته پخه کړه    د روښان وندې ورڅه له تماشه
میا پیرتهږو گوبر ته پسې ووی    مه گوره د زنده ولاړ شوله سیاسه

*  *  *

د میرخان د دیوان د غه نسخه په (۱۱۵۷ هـ) کښې ښکل

شوی ده .

*  *  *

په روښانی رساله کښې هم د توحید او مقاماتو ذکر شوی دی . دا رساله په ۱۳۵۵ ش کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده ، خو مؤلف یې پوره معلوم نه دی ، څوک یې د میا روښان او څوک یې دارزانی اثر بولي . د توحید

د علم په باب وايي :

د توحید علم به دریاب گڼم    چه سړی یې زده کوینه
توحید مقام د یگانگی    چه شپږ منزله دینه
شریعت طریقت حقیقت دی    معرفت قربت وصلت دي وگڼینه
په هر منزل کښې امر هم نهی    بنده به خدای له وایه وپوښتینه
هرچه علم د توحید زده که    ځواب د توحید پرې اسان شینه
توحید یگانگی د خدای ده    هر څوک دي په یو خدای ایمان راوړینه

(روښانی چاپی رساله - ٦ مخ)

*  *  *

د دی رسالی په آخر کښې د فقر نامې په حواله اتهٔ نوی مقامه بیان شوی دی چه خیر البیان کښې په دغو نومونو نمدی راغلی او هغه دا دی: تائبان، عابدان، زاهدان، صابران، راضیان، محبان، شاکران.

اتم مقام د رسالی د نیمگړتیا په وجه له منځه تللی دی. یو څو بیته یې دا دی:

اول مقام دی د تائبانو    تائبان دي له گناه چاروځینه
دوم مقام دی د عابدانو    عابدان دي په اخلاص بندگی کوینه
اووم مقام دی د شاکرانو    شاکران دي په شکر کښې او سینه

(۳۸ مخ)

# میارو ښنان او پوهان

پدې برخه کښې غواړو چه د میاروښنان، د ده د مسلك، عقیدې او ښوونې په باره کښې د پوهانو او عالمانو نظریې راوړو، ترڅو چه د مخالفانو د تورونو او غندنو اصلي ماهیت هرچاته ښکاره او څرګند شي

۱- ډاکټر ظهورالدّین لیکي : دا خبره پوره څرګنده ده چه بایزید د شریعت پابند او یو مسلمان سړی و . ده د خپل لوړ شخصیت او عمل په وجه په خلك په روښانه لار روان کړل . ده به زور ور حاکمانو ته د حق تبلیغ کاوه او د هیڅ پروایي نه کوله د ده عمومي عقیده د نورو اهل سنتو په شان وه، خو د ټولو عبادتونو غرض یې د خدای معرفت ګاڼه او دا یې د توحید علم باله . اخوند درویزه پر ده چه پر الزامونه لګولي دي، خو د مقصود المؤمنین دا یوه جمله چه (ترك الشریعت کان رأس الضلالة) د هغو ټولو د پاره بس او کافي ده (۱) .

۲- سیّد امیرعلي د سپرټ آف اسلام په (۳۴۴) مخ کښې وایي :

بایزید یو صوفي و او د وحدت الوجود عقیدې یې لرله . ده عقیده

(۱) د کابل مجله - ۱۳۴۴ ش کال د عقرب ګڼه - (۱۹ - ۲۴) مخونه .

رلوده چه بیله کامل پیرنه د نجات لار موندل گران دی ، دد پاره کامل پیرته ضرورت دی . بیله طریقت نه ، حقیقت ، معرفت او وصلت ته څوك نه شی رسیدای او ده اعقیده د ټولو صوفیانو ده .

(روښانیان - ۵۷ مخ)

## ۳ - شیخ فرید بکهری په خپل کتاب د تذکرة الخوانین کښې وایی[۱] :

بایزید یو اثرناك شخصیت ؤ . هرڅوك چه ورغی ، بی اثره بـه نه پاتی کیده ، صاف زړی پښتانه وربانده مین وو . د قرآن او سنت په رڼا کښې یې تعلیم ورکاوه . زیاتو پښتنو خپلو ده مریدی غوره کړی وه . د دروغجنو ، مذهب څرڅوونکو پیرانو ، ملایانو مخالف وو او ویل به یې چه د دوی له خبرو نه ځان ساتئ . د کامل پیر تابعداری یې لازمه بلله . او دا به یې ویل څه چه په شرع کښې روادی هغه کوئ او چه منع دی هغه مکوئ .

(روښانیان - ۸۸ مخ)

## ۴ - مولوی محمد حسین افغان لیکی :

بایزید خپل ځان ته بایزید مسکین وایه ، قبایلی خلکو پیر روښان باله او اکبر او ابوالفضل او نورو ورته پیر تاریك وایه . اخون درویزه ئی سخت دښمن ؤ . ده دیو مخلص افغان پرخلاف دیو داسی بادشاه ملاتړ کاوه چه هغه نوی دین اختراع کړی ؤ .[۲]

---

(۱) پدی کتاب کښې دجهانگیر بادشاه د زمانی خانان معرفی شوی دی .

(۲) د اتحاد افغانی مجله - د می میاشت - ۱۹۴۰ ع کال .

د اسې معلومېږي چه د روښان په سر کښې د پښتنو د لاسه وتلې حيثيت او دبدبې لاسته راوړل او د مغلو د قدرت اړول او د پښتنو د ملي حکومت د جوړولو نقشه پرته وه او په غه مذهبي رنګونو ه ـ غوښتل چه د غه قوم سره متحد کاندي او کارتري واخلي

(بايزيد روښان ـ ۱۶۴ مخ)

۵ ـ د روښان په صراط التوحيد کښې هغه خبرې چه د ده په باب، په خلکو کښې مشهورې دي، نه ليدل کيږي . بلکه د دې کتاب څخه معلومېږي چه دی په شريعت ټينګ ولاړ صوفي ؤ او غوښتل يې چه خلک د شريعت په رڼا کښې د روحانيت لوړو درجو ته ورسوي . د دې مقصد د پاره يې اول له قلم او خولې څخه کار واخيست او بيا يې ور سره توره هم ملګرې کړه .

(حافظ محمد ادريس ـ د صراط التوحيد د سريزې ۵ مخ)

۶ ـ پروفيسور تقويم الحق د مخزن الاسلام سپه سريزه کښې وايي :

د ميا روښان اولاد د هغه د مرګ نه پس د مغلو په خلاف يو اوږد سياسي تحريک شروع کړ او تر ډېرې مودې يې په کاميابۍ وچلاوه . د هغوی همت، جرأت په تاريخ کښې اوچت مقام ونيو او ور سره د بايزيد نوم هم ژوندی پاتې شو . اګرچه د بايزيد په کتابونو او د هغه د خليفه ګانو په اشعارو کښې دې سياسي

تحریک ته هیڅ اشاره نشته، خو داجنګ هغه، د هغه اولاداو
مریدانو شروع کړی ؤ او تاریخ د هغه نوم هیرولی نه شو.
(د مخزن د سریزی لومخ)
## ۷- مولانا عبدالقدوس قاسمی د خیرالبیان د
چاپی نسخی په سریزه کښې وایي:
بایزید انصاري د وحدة الوجود د ډلی په صوفیانو کښې یو صوفي
حسابیدای شي. ده چه په کوم طرز خیرالبیان لیکلی دی، په هغه
طرز نورو بزرګانو هم څه لیکلی دی. د بایزید او د هغه د اولاد
ته بر په اخون درویزه غالب ؤ، نو ځکه یې څو کاله په پښتنو حکومت و کړي شو
د ده سیاسي او مذهبي جد وجهد نا کافي ؤ، ځکه یې ورو ستو څه اثر
پاتي نه شو. خو د ده ادبي خدمات د پښتو د پاره ډیر مفید ثابت شو،
پښتو ده په خدماتو ژوندی شوه او مونږ یې د دی ادبي خدماتو قدر کوو.
(د چاپي خیرالبیان د سریزې ۹۲ مخ)
## ۸- پیرروښان او د هغه کورنۍ د مغلو د اختلاف یو طاقت
ؤ. پښتنو خیلونو ورپورې ځان و تاړه. د وزیرستان نه تر سوات
بونیر پورې ټول خیلونه پرې راغونډ شول او د مغلو خلاف بې جنګیدل،
تر ډیره وخته یې سرحد ونه آزاد وساتل. ولی دا خون بابا د کفر توری
او د مغلو په وسیله هغوی ټینګیدل ګران وو. روښانیان د کتنه ورسیدل او
پښتنو د احمد شاه تر وخته د مغلو غلامي ونه منله.
(روښانیان - ۱۵۷ مخ)

۹- ښاغلی سیّد ظفرشاه کاکاخیل په خپل مشهور اثر

«د پښتنو د تاریخ په رڼا کښې» وایي : د بایزید انصاري تحریک

په اول کښې بیخي یو مذهبي او اصلاحي تحریک و ، خو وروسته

د اسې حالات پیدا شول چه سیاسي رنګ یې اختیار کړ ۰ د —

صراط التوحید د مطالعې نه تر دیره حده د بایزید مذهبي خیالات

او عقاید ښکاره کیږي ، کوم الزامونه چه اخون درویزه وړاندې

نګولي دي ، هغه بیخي غلط او د مسلك د اختلاف نتیجه وه ۰

بایزید یو صوفي ، متشرع سړی و او مقصد یې دا و چه د شریعت

په رڼا کښې خپل پیروان د روحانیت لوړې درجې ته ورسوي ۰

(پښتانه د تاریخ په رڼا کښې - ۷۷۷ مخ)

۱۰- پوهاند حبیبي لیکي : بایزید یو حنفي اهل سنت

متصوف سړی و چه د ده دیني اعمال په حنفي مذهب برابر وو ۰

د حنفي فقهي له کتابو سره سم یې په خیرالبیان کښې دیني احکام

او عبادات بیان کړي دي ۰

روښانیان په تصوف کښې د پخوانو محققانو په لار

تللي دي ۰ د دوی په دیوانو او نوشتو کښې کوم بدعت او لوی

له ځانه راوړي افکار نه لیدل کیږي او عموماً دوی د شهودی

توجیه په لاره ځي ۰ مګر کله کله د روښانیانو په کلام کښې د «وحدت وجود»

تجلّی هم شته ۰

(د پښتو ادبیاتو تاریخ - دوهم ټوك - ۳۲۱ - ۳۵۱ مخونه)

۱۱ - ښاغلی **عبد الشکور** د پښتو د موزیم مهتمم د صراط التوحید په سریزه کښې لیکی:

بایزید د پښتنو په سیاسی، ادبی، روحانی او جنګی نومیالو کښې یو مشهور سړی دی. دی په لسمه هجری پیړی کښې د پښتنو خوا په غرو نو کښې د یو داسې روحانی، ادبی او سیاسی مسلک بنسټ کېښود چې د ده تر مرګ وروسته هم د ده د اولاد او مریدانو له خوا نږدې سل کاله وچلید.

بایزید د پښتنو خوا په غرو نو کښې پوره اقتدار حاصل کړی ؤ او د خپل مسلک تبلیغ یې په ښکاره ډول کاوه.

دی د پښتنو د یووالی غوښتونکی هم ؤ.

(د صراط التوحید سریزه ح مخ)

# د روښان مخالفان

د روښان لوی مخالف اخون درویزه و او دده پیر سید علی ترمذی هم ورسره مخالفت درلود . پدې مخالفت کښې د مغلي حکومت لاس هم ورسره و . د دوی ترمنځ ډیر بحثونه هم شوی دی خو په منطق او دلیل کښې میا روښان د برغښتلی وچه د غه اقرار په خپله اخون درویزه هم کړی دی .

دی وایې : بایزید په عقل پوره و ، هوښیاری او ځیرکې یې ډیره زده وه . د اخون درویزه د تهمتونو او الزامونو ځواب د پوهانو او عالمانو په نظر یو کښې په لنډه ول په ښکاره توګه شوی دی ؛

اخون درویزه یوازې له ده سره نه بلکه د ډیرو نورو پیرانو سره هم مخالف و او هر څوک یې د کفر او الحاد په غشو ویشتل ، لکه پیر طیب غلجی ، پیر ولی بریځ ، شیخ الیاس ، پیر پهلوان او داسی نور (۱) .

اخون درویزه همېشه په روښانیانو لعنتونه ویلی دی ، تور و ند یې پرې لګولی دی . مګر روښانیانو په کتابونو کښې د اخون درویزه په په باره کښې یوه بده خبره هم نه ده راغلی ، بلکه د هیچا په باب یې سپکې سپورې نه دی ویلی .

---

(۱) روښانیان – ۱۴۹ مخ .

درو ښان سره ځينې نور ومدکانو لکه ملک حبيب خليل ،
ملک همزه يوسف زی ، مولانا زکريا او نورو هم مخالفتونه
کړي دی ، خو په دغو ټولو کښې د مغلي حاکمانو لاس ، پيسی او
لمسون شامل دی .

د پښتو ادب او ميا روښان په باره کښې پخوا دومره معلومات لاسته
نه وو راغلی ، خيرالبيان نه وو پيدا شوی ، صراط التوحيد نه و چاپ ،
يوازی د مخزن الاسلام نسخې وې . اوس چه دغه د واړه کتابونه
چاپ شول ، خبره روښانه شوه او هر څه د اگی ته راووتل . د مخزن
په باره کښې د خوشحال خان شعرونه په سوات نامه کښې خپاره شول .
نو ځکه اوس د پخوانی فکر او قضاوت دوره بدله شوه . مونږ به دلته
د مخزن په باره کښې د سوات نامې يو څو شعرونه راوړو او وايو چې
تو گه به د مخزن اهميت او مقام په ډاگه شی .

ازاد خيال خوشحال خان وايی :

نوم لی مخزن الاسرار کړی جناب دی    درويزه چه بيان کړی خپل کتاب دی
خالی پاتی له دانش له فرهنگه    هر بيان يې ناموزون مجهول بی رنگه
دی هم خام تا سې هم خام مخزن هم خام دی (۱)    درويزه نه مجتهد دی نه امام دی

---

(۱) تاريخ مرصع - ۳۳۷ مخ

# د دې کتاب اخیستونه

۱ - صراط التوحید - د پېښور چاپ - ۱۹۵۲ع کال.

۲ - بایزید روښان - د خادم تألیف - د پښتو ټولنې چاپ -

۱۳۳۲ ش کال.

۳ - ویړمه - درشتین مقاله - د اسد میاشت ۱۳۴۱ ش کال

۴ - پښتانه د تاریخ په رڼا کښې - سید ظفرشاه کاکاخیل -

د پېښور چاپ - ۱۹۶۵ع کال.

۵ - د پښتو ادبیاتو تاریخ - دوهم ټوک - پوهاند حبیبي

د کابل چاپ - ۱۳۴۲ ش کال

۶ - روښانیان - عبدالاکبر اکبر - د پېښور چاپ.

۷ - کابل کالنۍ - د پوهاند رشتین مقاله - ۱۳۲۳ ش کال.

۸ - خیرالبیان - پښتو اکېډیمي پېښور - ۱۹۶۷ع کال.

۹ - مخزن الاسلام - پښتو اکېډیمي پېښور - ۱۹۶۹ع کال.

۱۰ - ورکه خزانه - همیشه ګل همیش - د پېښور چاپ -

۱۹۶۰ع کال.

۱۱ - د کریمداد دیوان - د پېښور چاپ - ۱۹۶۴ع کال.

۱۲- کابل مجله - درشتین مقاله - دجدی گڼه -
۱۳۴۴ ش کال.
۱۳- کابل مجله - د ډاکټر ظهورالدین مقاله - دعقرب گڼه -
۱۳۴۴ ش کال.
۱۴- کابل مجله - درشتین مقاله - دقوس گڼه -
۱۳۵۱ ش کال.
۱۵- ددولت دیوان - پښتو ټولنه - دکابل چاپ - ۱۳۵۳ ش کال.
۱۶- د واصل اشعار - پښتو ټولنه - دکابل چاپ - ۱۳۵۳ ش کال.
۱۷- د میرزا انصاری دیوان - پښتو ټولنه - دکابل چاپ -
۱۳۵۴ ش کال.
۱۸- روښانی رساله - پښتو ټولنه - دکابل چاپ - ۱۳۵۵ ش کال.
۱۹- تاریخ مرصع - یونیورسټی بک ایجنسی - پیښور چاپ -
۱۹۷۴ ع کال.

KITABOONA
BLOGSPOT.COM

http://kitaboona.blogspot.com/

https://www.facebook.com/1563796700518091

http://twitter.com/Kitaboona